


**له ښاغلي ډاکټر طارق رشاد سره چې د علم، ادب او فرهنګ په روڼ آسمان کې پیاوړی لیکوال، تکړه شاعر، ژباړونکی او هڅاند څېړونکی دی، د نړېوال ادبي ښوونځی ناتورالیسم په تړاو ځانګړې مرکه.**

**مرکوال: انجنیر عبدالقادر مسعود**

د ادب او فرهنګ درنو او پتمنو مینه والو!

دا ځل تاسو ته د پښتني- افغاني فرهنګ د بوې پېژندل شوې، درنې او نوموتې کورنۍ داسې نوښتګر لیکوال، تکړه شاعر، څېړونکی او ژباړونکی در پېژنو، چې د خپلو مسلکي کارونو تر څنګ له خپلو علمي، ادبي او فرهنګي لیکنو او پنځونو سره یې د علم او ادب غوړېدلی ډګر تود ساتلی دی. زموږ دغه پیاوړی لیکوال، څېړونکی او هڅاند شاعر ګران او منلی ډاکټر طارق رشاد د دروند، نومیالي او

رښتینې څېړې علامه اکادیمسین پوهاند عبدالشکور رشاد زوی دی. علامه استاد عبدالشکور رشاد د علم او ادب په تلځلاند ډګر کې هغه روڼ او روښانه ستوری دی، چې څېړنیز او تحقیقاتي نشیرونه(آثار)، علمي، ادبي ویناوې، مقالې او تاریخي پنځونې یې د علم، ادب، ټولنیز، پښتني، ملي، وطني او جغرافیایي ارزښتونو، انساني، بشري، سیاسي او تاریخي ژوند په بېلابېلو برخو کې د خورا ستاینې او درنښت وړ دي. د استاد علامه رشاد نوښتګر اندو فکر، خیال، انساني او اخلاقي پیغامونه د پوهې، علم او ادب په ډګر کې نوې لارې پرانیستې او د ده ژور لید د قلم خاوندانو ته د الهام نوې سرچینې وربښلې دي. د استاد رشاد صاحب نوم د علم او ادب په تاریخ کې د درناوي، نوښت او لوړ هنري مقام په زرینو تورو لیکل شوی دی. د ده پنځونې، څېړنې او شننې ځواک، فکري ژورتیا او ادبي چوپړ او خدمتونه به راتلونکو نسلونو لپاره د الهام روښانه مشال پاتې شي. د علم او ادب مینه وال علامه استاد رشاد د یو پوخ، مخکښ او پیاوړي لیکوال، علمي، ادبي او تاریخي ستې، نوښتګر پنځوونکي او څېړونکي په توګه په هېواد کې د ننه او بهر پېژني او ورته درناوی لري.

ما د ښاغلي ډاکټر طارق رشاد د بشپړې پېژندې په موخه د یو لنډ ژوند لیک په ملتیا د څو نوموړو علمي او ادبي څېړو لیدتوګي هم ترلاسه کړې دي. هیله ده ورسره به د ده د علمي او ادبي ستې په تړاو معلومات د یوې ځانګړې مرکې په ترڅ کې تاسو درنو مینه والو ته وړاندې شي.

ښاغلی ډاکټر طارق رشاد د علامه اکادیمسین پوهاند استاد عبدالشکور رشاد زوی دی، چې په (٦) مه د می میاشتې پر (١٩٥٦)زېږدیز کال کې په لوی کندهار کې زېږېدلی دی. په پښتو او دري ژبو یې لیکنې او نښیرونه (آثار) چاپ

شوې دي. له انګلیسي او هالندي ژبو سره هم بلد دی. ګڼ شمېر خپلې لیکنې یې په دغو ژبو هم ژباړلې دي.

**چاپ شوي نښیرونه(آثار) یې دا دي:**

- د زړه سانده: ( پښتوګڼه شعری ټولګه )
- شعری که خنجر است: ( مجموعه شعری دری مختلط )
- سپیدې: ( پښتو ګڼه شعری ټولګه)
- در میلاد خورشید: ( مجموعه شعری دری مختلط )

On the board of ( دشعرونو او لنډو کیسو ګڼه ټولګه د هالندی ژباړې سره ) memories _

- افغانی شمله: ( د لوی استاد علامه پوهاند عبدالحی حبیبي په اړه د مقالو او شعرونو ټولګه)

- د افغانستان په اوسینو حساسو شیبو کې د ملي سیاسي او ټولنیز ـ کلتوري هڅی اړتیا

**چاپ شوي کتابګوټی:**

- پېښې او ننداري (تیاتر)
- د پښتو ادب لنډ تاریخ
- پښتو ولسي ادب (فولکور)
- دوینښو زلمیانو د اثر سریزه او د نورو نښیرونو(آثار) سرېزې
- بیلا بیلې ادبي ، روغتیاتي او سیاسي لیکلنې

**چاپ شوې مجلې:**

ـ روغتیا ( روغتیاي مجله ) مهتمم (۲۰۰۰) زېږدیز په هالند هیواد کې

ـ ځانګه (کلتوري او ادبي مجله ) مسوول مدیر په هالند هیواد کې

ـ شمله ( کلتوري او ادبي مجله ) مسوول مدیر په هالند هیواد کې

**زده کړې:**

: North West Kent College    ESOL_ LEVEL ۲

English Language in UK

: ۲۰۰۷ _ ۲۰۰۹

: Regional opleiding Centrum    Dutch Language

The Netherlands    LEVEL ۵

۱۹۹۵-۱۹۹۷

Utrecht computer programmer    Basic computer program

The Netherlands

۱۹۹۸

د کابل طبي انستیتوت:

کابل ـ افغانستان

MD Diploma (۱۹۷٦_۱۹۸۳ )

د نادریې لیسه: بکلوریا

کابل – افغانستان

۱۹٦۹_۱۹۷۵

**دندې:**

له (۲۰۱۷) تر (۲۰۲۱) زېږدیز  په اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د فرهنګي چارو سلاکار.

ـ کاریز مرستندویه تولنه (روغتیا او ښوونه): ولایتی مشر

کندهار ـ افغانستان : د رشاد کلینیک داکتر

۲۰۰٤_۲۰۰۷

ـ د لوی کندهار کلتوري مرکه: مشر

۲۰۰٥_۲۰۰٦

ـ د نیدرلند افغاني طبي ټولنه: دنړیوالو اړیکو مسوول مشر

۲۰۰۰_۲۰۰۲

ـ د نیدرلند افغاني کلتوري ټولنې: مشر

۲۰۰۰_۲۰۰۳

په اروپا کې د کلتوري ټولنو ګډې جرګګی: د مشرتابه غړی

د جمهوریت روغتون ۱۹۸۳_۱۹۸۸  د داخله ډیپارتمنت ډاکټر

د افغانستان راډیو (۱۹۸۷-۱۹۸۸ ) د هنر او ادبي پروګرام ویاند او چلونکی

په بیلابیلو نړیوالو او د کور دننه کنفرانسونو کې یې ګډون کړی د بیلګې په توګه هالند،جرمنی،بلجیم، اتریش،سویدن ،بریتانیا،امریکا،کاناډا،جاپان او د هیواد په پلازمینه او ډیری ولایتونو او داسی نورو سیمو کې...

**ځانګړې لیوالتیاوې:**

ـ طبي، ادبي ، کلتوري، سیاسي مطالعه او لیکوالي...

***

ډاکټر طارق رشاد هغه هڅاند او تاند لیکوال، څېړونکی، ژباړونکی، تکړه ویناوال او شاعر دی، چې په خپلو ادبي لیکنو او شعرونو کې یې د افغاني ټولنې ربښتیني انځورونه له ټولو ورپېښو دردونو او کړاوونو سره په ډېره زړورتیا په شاعرانه احساس او هنرمندانه ژبه خپلو مینه والو ته داسې بیان کړې دي، چې د لوستونکو او اورېدونکو او هر با احساسه انسان په زړونو او ذهنونو کې د هېواد، بشر پالنې، ملي پیوستون، اتحاد او اتفاق انساني احساسات، جذبات او ولولې راپاروي.

***

ښاغلی ډاکټر زرین انځور د پښتو ادب د روڼ اسمان په لمن کې هغه نوموتی لیکوال او پیاوړی څېړونکی او کره کتونکی دی، چې په خپله یوه لیکنه کې د ښاغلي ډاکتر طارق رشاد د علمي او ادبي ستې په تړاو یې داسې کښلې دي:

((.... د ښاغلي ډاکټر طارق رشاد په اړه خبرې موږ ته له دوو اړخونو د پام وړ دي. لومړی دا چې هغه د افغانستان د یوې داسې علمي کورنۍ غړی دی چې د افغانستان د تاریخ ، ادبیاتو او فرهنګ په څېړلو او راسپړلو کې یې ونډه ډېره درنه ده. اروانباد استاد رشاد د هېواد یوه ستره علمي هستي وه او زامن یې ډاکټر خالد

رشاد، ډاکټر طارق رشاد او استاد شېرشاه رشاد او نور، هر یو په خپل خپل ځای کې د علم او فرهنګ په کار کې د یادونې وړ ځای لري.

له بلې خوا خپله ډاکټر طارق رشاد که د خپل مشر ورور ډاکټر خالد رشاد په څېر د طب ډاکټر دی، خو یو ښه شاعر، لیکوال او څېړونکی هم دی. هغه لږ لیکل کړي ، خو هغه څه چې یې لیکلي دي ، پاخه یې لیکلي دي او سړی پکې د استاد رشاد د درندو څېړنو نخښې نښانې لیدلی شي.

د دې په څنګ کې هغه یو صادق انسان، یو خواخوږی دوست او ملګری، یو پر وطن مین شخصیت دی. دا هغه څه دي چې د ارواښاد استاد رشاد په ټولو اولادونو کې یې موږ د هغه د شخصیت د وړانګو په توګه کتلای شو.))

(۲۹) می (۲۰۲٦)...

***

ډاکټر طارق رشاد له خپل هېواد او هېوادوالو، پښتو او پښتونولۍ سره، له ولس، ژبې او فرهنګ سره ژوره، پاکه او سپېڅلې مینه لري. د ده په ذهن کې د ملي یووالي، اتحاد او اتفاق، ملي پیوستون، ورورۍ او برابرۍ موخه او مرام له ورایه راڅرګندېږي.

ډاکټر طارق رشاد زړه سواندی، مینه ناک، خواخوږی او متفکر انسان، رښتینی، درونږ، د عالي او نیکو اوصافو او لوړو اخلاقو، انساني عواطفو او سپېڅلو احساساتو خاوند شخصیت دی. د علم، پوهې او ادب سره ځانګړې مینه لري. د خبرو او بیان ژبه یې پسته، اغېزناکه او سلیسه ده.

***

ښاغلی نظیف تکل هغه پیاوړی لیکوال، غزلبول او خوږ ژبی شاعر دی، چې د خپلو منظومو او منثور نښیرونو له لارې یې د پښتو ادب ګلبڼ ښېرازه او روښانه ساتلی دی. ده په خپله یوه لیکنه کې د ډاکټر طارق رشاد د علمي او ادبي شخصیت په اړه داسې کښلي دي.

((.... ډاکتر صاحب طارق رشاد په کسبي حساب د طب ډاکتر دی او د انسان د اناتومۍ سره سر و کار لري په طبابت کې هم مجرب او وتلی ډاکتر دی، له بله اړخه شاعر، لیکوال او څېړونکی هم دی چې دا اړخ یې بیا د انسان د روح او روان سره سر و کار لري.

د همدې علمي او ادبي امتزاج له برکته یې په لیکنو او څېړنو کې د عقل او احساس منطق، تخیل، علم او هنر ښکلی توازن لیدل کېږي.

ډاکتر طارق رشاد په معاصر فکري او فرهنګي ډګر کې هم د یو فعال او اغېزناک قلموال په توګه پېژندل کېږي.

په شخصي ژوند کې هم د یو درونږ ظریف شخصیت خاوند دی، په ملګرتیا کې ډېر ښه ملګری دی، یو ښه ښوونکی دی باریک بین دی زر یې په خبره سر خلاصېږي او بل هم زر پوهولی شي، زه یې په ملګرتیا ویاړم، روغتیا او خوشاله ژوند ورته غواړم.))

***

ما د ښاغلي ډاکټر طارق رشاد د پوره پېژندګلوي په تړاو له ده سره یوه ځانګړې مرکه جوړه کړې ده، چې ستاسو د علم او ادب درنو مینه والو پام ورته راګرځوم.

ګران ډاکټر طارق رشاد صاحب زما سلامونه او نیکې هیلې ومنئ، اجازه راکړئ چې خپلې پوښتنې پیل کړم.

گران مسعود صاحب ډېره مننه. زه هم تاسو او ټولو مینه والو ته سلامونه وړاندې کوم او ستاسو په خدمت او چوپړ کې یم.

***

**مسعود:** تاسو په هېواد کې د ننه او بهر د لرغوني ادبیاتو تاریخي شالید، رېښې، آر، فکري بنسټونه او ارزښتونه، ځانګړتیاوې او منځپانګه څه ډول څېړئ؟

**ډاکټر رشاد:** ادبیات د انسان د فکر، احساس، تجربې او ټولنې هنري بیان دی. دا د ژبې هغه لوړه بڼه ده چې یوازې د معلوماتو د لیږد لپاره نه، بلکې د ښکلا، تخیل او معنوي تجربې د رامنځته کولو لپاره کارېږي. ادبیات د انسان د ژوند هینداره ده او د هرې دورې فکري، ټولنیز او کلتوري حالتونه منعکسوي.

لرغونی ادبیات د انسان د فکري تاریخ له پخوانیو ریښو سره تړاو لري. دا ادبیات د اساطیرو، حماسو، مذهبي متونو او شفاهي روایتونو له لارې رامنځته سوي دي. په دې متونو کې د هغه وخت د انسان نړۍ لید، باورونه، دیني تصورات او ټولنیز ارزښتونه نغښتي دي. لرغونی ادبیات یوازې تاریخي میراث نه دی، بلکې د انساني فکر د پرمختګ لومړني پړاوونه دي.

لرغونی ادب باید په دوو لارو وڅېړل سي: لومړی، د اسطورو ، ویاړونو او ټبر پېژندنې له لار ې چې نکلي ، دیني او حماسي ریښې لري .

دوهم، د تاریخي ښکلاپوهنې لار ده چې د ادبي قالبونو بدلونونه د ټولنیزو بدلونونو په رڼا کې وړاندې کوي لکه د لرغوني یونان او روم ادبیات چې د کلاسیکیزم د مکتبونو بنسټګر دي، په داسې حال کې چې د پښتو لرغونی ادب پر دود، دستور ، حماسو، طبیعت، دین، تصوف او اسلامي کلتور ولاړ دی.

د همدې لرغوني ادب په څېړنه کې باید پوه سو چې د پښتو ژبې لرغونی او زوړ ادب پر دوو برخو ویشل کېږي: نالیکلی (شفاهي) او لیکلی (تحریري). تمرکز

خو پښتو ژبه د نالیکلي (شفاهي) ادب د ډېروالي او څرنګوالي له امله ډېره بډایه ده او د سیمې په ژبو کې ځانګړی مقام لري لکه لنډۍ (ټپې)، کاکړۍ، پاړکي (لنډکۍ، بندۍ، سورې، بچکي)، سروکي (نیمکۍ، پامونه)، نارې، چغیان (انګۍ، هوۍ سندرې)، د ښادۍ سندرې، د میندو سندرې، ساندي، نکلونه، متلونه...

په پښتو کې د نالیکلې ادب دغه بیلابیل ډولونه او د دغه ادب ډیروالی سړی په دې باور کوي چې زموږ خلکو سره ځومره هنري ذوق او احساس وو او خپل ذوق و احساس یې د دغه ادب په بیلابیلو قالبونو کې ځایاوه.

اوس چې موږ د پښتو د نالیکلي ادب کومې ثبت سوي بیلګې لرو له کومو استثنایي موارډو پرته له تاریخي پلوه ډیري لرغوني نه دي خو مفکوره او د فکر طرز یې په ځینو کې لرغونی او د ځینو شکلي جوړښتونه هم له ډیرو لرغونو وختونو روایت کوي او له هغو آریایي سندرو سره ورته والی چې زرګونه کلونه وړاندي په دې خاوره کې ویل سوي، پالل سوي او وده ورکړه سوې ده او ځانګړنه یې داده چې په غاړه(لحن) ویل کیږي .

د لرغونی پښتو ادب په لیکلي لومړي پړاو کې چې له دوهمې هجري پیړۍ پیل کېږي، ډېر یې په لېږد کې څڅېدلي او ضایع سوي، ښایي ځینو تورو یې د وخت په تیریدو بدلون موندلی وي څو تر موږ رارسیدلي دي چې په غور کې د امیر کروړ له ویاړنې، د کسۍ غره لمنو کې د بیټ نیکه له مناجاته او همدارنګه د شیخ اسماعیل او خرښبون د بیلتانه له سندرو، او په ملتان کې د شیخ رضی لودي د شعر په ځواب کې د نصر لودي له شعر څخه چې په لرغونو اوزانو کې ویل سوي دي، را پیل

کېږي ، بيا د شيخ تيمن کاکړ او قطب الدين بختيار کاکي د مينې له سوزه ډک دبيلتانه له سندرو، د ښکارندوی د طبيعت د ښکلا او د پسرلني ښکلي انځورګر شعر او داسې نورو نيولې تر کلاسيکي ديواني شاعرۍ لکه د خوشال بابا، رحمان بابا، حميد بابا او داسې نورو تر شاعرۍ پوري غزيږي او د خپلو لرغونو شعري قالبونو د دود ترڅنګ د ختيځي شاعرۍ دود هم رامنځته کيږي او د هغه نوي شعري ژانرونه خپلوي، لکه قصيده، غزل، قطعه، رباعي، مثنوي، مخمس، مسدس، ترکيب بند، ترجيع بند او نور شعري ډولونه. خو په يو توپير سره چې په ۱۳۴۸ لمريز کال کې علامه اکاډميسن پوهاند عبدالشکور رشاد د "پښتو نظم عروضي سيستم" اثر وليکی چې په دې سره يې د عربي عروضي او سيلابيک سيستم تطبيق پر پښتو رد کړ او سيلابوټونيک سيستم يې د پښتو لپاره د عروضي سيستم په توګه ثابت کړ چې په دغه بکر اثر يې په کال ۱۳۵۰ ل کال کې د "پوهنوال " علمي رتبه ترلاسه کړه ځکه نو پښتو د ختيځي شاعرۍ ډولونه له خپل عروضي سيستم سره د ځان کړل، نه د هغو د عروضي سيستم سره. ورو ورو مسجّع نثر هم په روان نثر بدل سو.

خو د ناليکلي يا شفاهي ادب تاريخ چې ډېر پخوانی دی، ټول نه خو ځينې يې سينه په سينه ساتل سوي او خوله په خوله را انتقال سوي دي خو ولسي موسيقۍ هم د هغه په لېږد کې خپل رول ادا کړی دی، چې ځينو ډولونو يې لرغوني ترنمي جوړښتونه ساتلي دي چې د آريايي سندرو او د ريګويدا او اوستا سندرو او ګاڅونو ته ورته دي، ساتلي دی.

د دغه ناليکلي(شفاهي ) پښتو ادب د بيلګو په راټولونه کې زما د معلوماتو له مخي تر ټولو پخوانی کار د هندوستان د نواب محمد ارتضی خان دی، ده د ۱۲۲۵ سپوږميز(ه ق) شاوخوا په خپل فرهنګ ارتضايي نومي کتاب کې ځيني پښتو لنډۍ

ثبت کړي دي او د لویدیخوالو څخه د جمیز ډارمستټر کار د یادولو وړ دی چې "د پښتونخوا د شعر هار و بهار "یې په ۱۸۸۸ زیږدیز(م) کال په پاریس کې چاپ سو او په افغاني پوهانو کې غلام محی الدین افغان(۱۳۰۰ ل مړ) دا کار تر هر چا دمخه کړی دی او په "سراج الاخبار افغانیه " کې د پښتو متلونو بیلګې چاپ کړي دي. تر ده وروسته په کندهار کې د پښتو ادبي انجمن سره او بیا په کابل کې د پښتو ټولنې له تاسیس سره سم زموږ خواخوږو ادیبانو د پښتو شفاهي ادب د بیلابیلو ډولو نمونې ثبت او خوندي کړې ، په دې کسانو کې د سرلاري په توګه محمد ګل نوري(۱۳۵۲ ل مړ) د لوی حق خاوند دی.

د ادبي اثارو په څېړنه کې باید د هغه د ایجاد او ودې شرایطو او د ادبي پدیدو شکلي او موضوعي ځانګړتیاوو ته پام وسي. مهمه دا ده چې دا متنونه د هغه وخت او ځای د خلکو د دود او دستور سره وڅیړل سي.

**مسعود:** په هېواد کې د ننه او بهر د معاصرو ادبیاتو تاریخي شالید، رېښې، آر، فکري او هنري بنسټونه او ارزښتونه، ځانګړتیاوې، پیل، پرمختیا او پراختیا څه ډول څېړئ؟ د دې زمانې، د ملي، ادبي، علمي او فلسفي نامتو ستو په تړاو څه لید لرئ؟

**ډاکټر رشاد:** بهر کې معاصر ادب له مدرنیته پیلېږي. د نولسمې پېړۍ په وروستیو کې، صنعتي انقلاب او بیا نړیوالو جګړو دودیز ادب بدل کړ.

په افغانستان کې معاصر پښتوادب د مشروطه غوښتنې او سیاسي بدلونونو تر اغېز لاندې دی.

د دې تر څنګ باید وویل سي چې پښتو معاصر ادب په اوسني افغانستان کې پر څلورو پړاونو ویشل کېږي:

لومړی پړاو یا د روښانتیا پړاو، چې د "سراج الاخبار افغانیه" د خپرېدو له وخته پیلېږي.

دوهم پړاو یا د ویښتیا پړاو، چې د ویښ زلمیانو له وخته را پیلېږي.

دریم پړاو یا د اوښتون پړاو، چې د ظاهرشاه د ډیموکراسۍ د لسیزې له لومړیو راپیلېږي.

څلورم پړاو بدلون یا انقطاب پړاو، چې له کودتاوو، تېریو او سیاسي بدلونونو را پیل کیږي.

خو پښتو معاصر ادب په هغه سیمه کې چې انګریز ښکیلاک  له خپلې اډانې بېله کړه، بېله بڼه غوره کړه. ځکه نو تر ډیورنډ کرښې هاخوا، د هند د نیمې وچې له ویش مخکې د پښتو معاصر ادب پړاو دی او بل له هغه وروسته د پښتو معاصر ادب پړاو دی خو یوه خبره د پام وړ ده چې د کډوالو په ورتلو سره د دې ادبي بهیر راکړه ورکړه ډېره سوه او هلته هم شمالي پښتونخوا بیله او جنوبي پښتونخوا بیله پر دوو حوزو ویشل کیږي، ځکه د دوی د ادب هستونې پرمختیا بهیرونه څه توپیر لري.

همدارنګه اوس د سند، هند، خلیج او عربي هېوادونو ترڅنګ په لویدیځو هېوادونو، روسیه او نوره نړۍ کې کلتوري ټولنې او د پښتو ادب فرعي حوزې موجودې دي چې خپلې ادبي لاسته راوړنې لري.

پښتو معاصر ادب تر ډېره د سیاسي بهیرونو ترڅنګ وده کړې ده او تر شلمې پېړۍ پوري یوازې د عربي او سیمې له  اثارو سره اشنا و او ورشو یې له همدې بڼې ، خوند او ښکلا له چینې خړوبیده خو وروسته د نړۍ د ادب له پېژندلو سره یې د خپلو ادبي ډولونو ترڅنګ د هغو ژانرونه او ډولونه هم د ځان کړل، لکه: ناول، رومانس،

لنډه کیسه، د ساینس فکشن او میتافکشن کیسې، ډرامه، آزاد شعر، سپین شعر، هایکو او داسې نور.

خو زما په اند اوس نه یوازې پښتو ادب، بلکې د سیمې ادب پر دریو لیکو روان دی: لیبرال ادب، ملي ادب او بنسټپال یا رادیکال ادب.

**مسعود:** ستاسو په اند کوم ډول نښیرونه(اثار) د ادبي نښیرونو(اثارو) او ادبیاتو په توګه وپشل کېدای شي؟ او دا راته ووایاست څه وخت لیکوال او شاعر یو ادبي اثر پنځولای شي؟

**ډاکټر رشاد:** ادبي اثر هغه لیکنې یا وینا ته وایي چې په هغې کې د ژبې ښکلا (استعاره ، ایهام، شرنګ ...) له یوازې خبرو یا ګرامري دندې څخه غالب وي.

یوه ساینسي یا ورځپاڼیزه لیکنه ادبي نه ده خو په ځیرکتیا له ادبي صنایعو څخه ګټه اخلي.

لیکوال یا شاعر هغه وخت کولای سي ادبي اثر هست کړي چې د سبک پوهاوي ته رسېدلی وي؛ یعنې په ادبي قواعدو او دودونو پوه وي او یا په قصدي او هنري توګه یې مات کړي. همدا راز ادبي اثر باید په لوستونکي کې یو ډول ښکلاپوهنیزه تجربه راپیدا کړي، لکه هېښتیا، همدردي، یا پاکي.

**مسعود:** د ادبیاتو د موخو او دندو، همدا راز د ژمنو او نا ژمنو ادبیاتو او د ادبیاتو د نورو اړخونو په اړه که لږ څه رڼاوی ورکړئ؟

**ډاکټر رشاد:** زما په اند ادبیات څلور اصلي دندې لري: پوهنیزه (د نړۍ او انسان پېژندنه)، روزنیزه (اخلاقي جوړښت)، خوندورتیا (ښکلا او تفریح) او ټولنیزه نیوکه (د ټولنې پټ زخمونه ښکاره کول).

د ادب په ژمنتیا باندې: سارتر وایي چې لیکوال نسي کولای بې ژمنې وي ځکه لیکل پخپله یو عمل دی او هر عمل په تاریخي حالت کې مانا لري. په مقابل کې، د هنر د هنر لپاره پلویان وایي چې د ادبیاتو ارزښت په خپله به ده کې دی نه یوې نظریې ته خدمت کول. زما په اند، غوره ادب هغه دی چې ژمنتیا په قالب بدله کړي نه په شعار بلکې د روایت په طریقه، د لید په زاویې او د استعارو په انتخاب.

**مسعود:** د ادبیاتو د وېش، د ژبې او ادبیاتو د اړیکو په اړه څه لید لرئ؟

**ډاکټر رشاد:** د ادبیاتو وېش په درېو غورو برخو کې کېږي: غنایي (شعر، سرود)، کیسه ایز (ناول، کیسه) او نندارېز (ډرامه، فلم نامه). په نوي عصر کې، ترکیبي قالبونه (منثور شعر، شاعرانه ناول، مستنده کیسه) پولې کمزورې کړي دي. خو له وېش څخه مهمه د ژبې او ادب اړیکه ده چې ادب د طبیعي ژبې د قواعدو په چوکاټ کې د ژبې هنري لوبه ده. شاعر او لیکوال نه له ژبې تښتي او نه بشپړ د هغه تابع  دی، ژبه یو ثانوي جوړښت ته اړوي چې موسیقي، ناڅرګندتیا او څو ماناوي پیدا کړي. پرته له ژبې ادبیات نسته، خو ادبیات ورځنۍ ژبې ته د بدلون ځواک لري.

**مسعود:** ژان پل سارتر(۱۹۸۰-۱۹۰۵) چې د شلمې پېړۍ له مخکښو پنځونکو، مخورو او مهمو فیلسوفانو او اندیزو څخه وو، دغه تکړه لیکوال د خپلو نوموتو اثارو تر څنګ د (ادب څه شی دی؟) په نوم یو اثر هم کښلی دی او دا کتاب د لمړي ځل لپاره پر(۱۹۴۸)زېږدیز کال کې خپور شو. ستاسو په اند سارتر د ادب او ادبیاتو د ارزښت، ژمنتیا او مسؤلیت په اړه څه فکر کاوه؟

**ډاکټر رشاد:** سارتر استدلال کوي چې ادبیات همیشه ژمن دي، ځکه لیکوال په لیکلو سره یوه نړۍ د لوستونکي پر مخ پرانیزي او د انتخاب بلنه ورکوي. د ادبیاتو

ارزښت له واقعیت څخه په تېښته کې نه دی، بلکې په دې کې دی چې واقعیت د بدلون وړ یو شی وښیي. سارتر د شعر او نثر ترمنځ توپیر کوي: شاعر د لغتونو څخه د یو شي په توګه کار اخلي، خو د نثر لیکوال د لغتونو څخه د اشارې د وسیلې په توګه ګټه پورته کوي. نو نثر لیکوال نه سي کولای بې پرې او بې پروا وي. د لیکوال مسؤلیت دا دی چې د لوستونکي ازادي راوپاروي او هیڅکله د هغه پر ځای پرېکړه ونه کړي.

***

اوس به راشو د ادبي ښونځیو لورلید ته:

د ادبي مکتبونو او سبکونو په تړاو خبرو ته:

***

**مسعود:** تاسو ادبي مکتبونه، ادبي سبک، تګلوري او ارزښت یې، همدا راز ادبي ځېلونه، ټوټې (ژانرونه) څنګه راپېژنئ(تعریفوئ). او دا راته ووياست،چې کوم مکتوبونه کولای شو د ادبي مکتبونو په نوم ونومولای شو؟

**ډاکټر رشاد:** ادبي مکتب د لیکوالانو او کره کتونکو هغې ډلې ته وایي چې په یو ټاکلي تاریخي دوره کې د ښکلاپوهنې د یوشان اصولو پیروي کوي او ډیری یو ډول مانیفست یا تګلاره لري. ادبي سبک خو د یو لیکوال یا دورې ځانګېړنه وي او لازمي نه ده چې ډله ایزه پیروي وي. ژانر هم یو دودیز قالب دی چې د فحوا او محتوا ځانګړي توقعات رامنځته کوي.

زما په اند، هر هغه منظم جریان چې نظري شالید، شاخص ، اثار او تاریخي اغېز ولري، ادبي مکتب بلل کېږي؛ لکه کلاسیسېزم، رومانتیسېزم، رئالیسېزم، ناتورالیسېزم، مدرنیسېزم او پست‌مدرنیسېزم...

**مسعود:** تاسو د ادبي مکتبونو په بهیرکې د ادبي څېلونو(ژانرونو) د بنسټیزو بدلونونو د ودې او پرمختیا په اړه څنګه اندئ؟

**ډاکټر رشاد:** ادبي ژانرونه هیڅکله ثابت نه دي. مثلاً ناول چې یو وخت عام خوښوونکی ژانر و، وروسته غالب ژانر سو. هر ادبي مکتب موجود ژانرونه بدلوي. کله کله مکتبونه نوي ژانرونه پیدا کوي. په افغانستان کې هم موږ د رئالیسېزم په تیره بیا انتقادي ریالیزم او ناتورالیسېزم تر اغېز لاندې د پښتو د هنري نثر ، آزاد شعر او ښاري لنډې کیسې د بیا زیږون شاهدان یو.

**مسعود:** د هیڅ ادبي مکتب رامنځته کېدنه ناڅاپه او له سریزې پرته نه وي، د هر یوه ډېرې نښې د پخوانۍ دورې په ادبي اثارو کې موندل کېدای شي. تاسو هغه لاملونه او توکي څنګه ارزوئ چې د ادبي مکتبونو د پیدایښت، جوړېدنې، بدلون، ودې او پرمختګ او د له منځه تللو لامل ګرځي؟

**ډاکټر رشاد:** ادبي مکتبونه هیڅکله په خلا کې نه راپیدا کېږي. اصلي عوامل دا دي:

۱ .ټولنیز-سیاسي بدلونونه: صنعتي انقلاب د رئالیسېزم او ناتورالیسېزم سبب سو. نړیوال جنګونه د مډرنیزم پیدا کوونکي وو.

۲ .د علومو پرمختګ: د تکامل تیوري او رواني کتنې په ناتورالیسېزم او سوریالیسېزم باندې ډېر اغېز وکړ.

۳ .د مخکیني مکتب په وړاندې غبرګون: ناتورالیسېزم د رومانتیسېزم د ایډیالیسېزم غبرګون و.

۴. تخنیکي نوښتونه: د عکاسي اختراع انځورګران امپرسیونېزم ته واړول؛ سینما د ناول د روایت پر بڼه اغېز وکړ.

د مکتبونو زوال بیا هغه وخت پیښیږي چې د هغوی اصول کلیشیی سي او نوی نسل د نوو تجربو د څرګندولو لپاره نوو قواعدو ته اړتیا پیدا کړي.

**مسعود:** ستاسو په اند یو لیکوال او شاعر څنګه کولای شي چې هم د یو مکتب پلیونی اووسي او هم خپل ځانګړی چلندلار او دود ولري؟

**ډاکټر رشاد:** دا کشمکش د خلاقیت له ډېرو جذابو اړخونو څخه دی. ځواب د قواعدو په بیا پیدا کولو کې پټ دی. خلاق لیکوال د مکتب قواعد د زنځیر په توګه نه ګوري چې لاس او پښې یې ور تړي بلکې د امکاناتو د یوې وسیلې په توګه درک کوي. قاعده منل یې له پوهې او ماتول یې په حساب وې، دغه روښانه لار ده.

**مسعود:** تاسو ناتورالیست ادب څنګه راپېژنئ؟ د دې ادبیاتو تر ټولو اړینې ځانګړنې او ځانګړتیاوې کومې دي؟

**ډاکټر رشاد:** ناتورالیسېزم په ادب کې د ساینسي (تجربي) میتود کارول د انسان په مطالعه کې دي. ناتورالیست لیکوال د یو ژوپوه په څېر د کرکټرونو چلند د دې فرضیې له مخې چې د دوی برخلیک د ارثیت او چاپېریال له خوا ټاکل کېږي، تحلیلوي.

د هغه اړینې ځانګړنې:

۱ .جبر: انسان ازاد نه دی.

۲ .عینیت: د ساینسي راپور په څېر عینیت (لیکوال مستقیم اخلاقي قضاوت نه کوي).

۳ .تمرکز: د ژوند پر تیاره اړخونو تمرکز (بې وزلې، لېونتوب، نشه، تاوتریخوالی...).

۴ .طبقاتي چلند : عادي او ډیری د ښکته طبقې کرکټرونه.

۵ .د شعار ورکولو صنعتونو ردول (په «حقيقت» پسې دی ، نه ارماني «ښکلا»).

**مسعود:** د ناتوراليسمو ادبياتو تر ټولو مهم او نوښتګر ليکوال څوک ول؟ مهرباني وکړئ د هغوی د نامتو او ګټورو اثارو نومونه واخلئ.

**ډاکټر رشاد:** بې له شکه اميل زولا د ناتوراليسېزم تر ټولو مهم او نوښتګر ليکوال دی. هغه د شلو ټوکو لړۍ «روګن ماکار» سره د ناتوراليسېزم بنسټ ايښی دی.

د دې لړۍ تر ټولو مهمو اثار دا دي:

د نلدوانۍ ژرنده.

خوړنځای – د کارګرو بدحالي او الکوليزم انځورول.

ژرمينال – د کان کيندونکو د اعتصاب ، تر ټولو ځلېدونکی ناول.

مځکه – توند کليوالي ژوند ښودل.

ساني – د يو سرتېري د رواني ړنګېدا تحليلول.

تېرس راکن – د هغه لومړی مهم ناول.

**مسعود:** تاسو د ناتوراليسم(طبيعت ګرايي يا طبيعت باوری) ښوونځی څنګه راپېژنئ او ارزوئ، کوم چې په نولسمه پيړۍ کې د علمي او فلسفي اندونو او افکارو د پراختيا پايله وه. مهرباني وکړئ د دې مکتب د تاريخ، آر او بنسټ په اړه لنډ مالومات راکړئ، چيرته، کله او د چا لخوا جوړ شوی دی او لومړني بنسټ ايښودونکي يې څوک دي؟

**ډاکټر رشاد:** ناتوراليزم د نولسمې پېړۍ په دوهمه نيمايي په فرانسه کې راټوکېدلی ادبي مکتب دی، چې له ۱۸٦۵ څخه تر ۱۸۹۵ پورې خپل اوج ته ورسېد. دا مکتب

په اصل کې د علمي انقلاب، صنعتي بدلونونو او ټولنيزو بحرانونو مستقيمه پايله وه. د دې بنسټ اېښودونکی «ايميل زولا» دی، هغه څوک چې نه يوازې دا مکتب يې تعريف کړ بلکې عملي بڼه يې هم ورکړه.

خو په ځرګند ډول د " ناتورالست مکتب" نوم ايښودنه د ۱۸۷۷ ز کال د اپريل پر شپاړسمه د " تراپ" په رستورانت کې د شپې ډوډۍ پر ميز تر سره سوه ، کله چې ګوستاو فلوبر، ايزمونو دو ګونکور، ايميل زولا او د آينده ډله(مدان) راټول سوي ول. دا وراشه(اصطلاح) چې د علم ، فلسفې او هنر د کره کتنې له ژبې را اخيسته سوې وه ادب ته ننوته.

سره له دې چې د اوولسمې پېړۍ راهيسي د فرانسې د ښکلو هنرونو اکاډمي هغه عقيده چې د طبيعت تقليد په هرڅه کې اړين بولي ناتوراليستي بللې ، دا وراشه يا اصطلاح په ځانګړي ډول په انځورګرۍ کې کاريده . بودلر باور درلود چې :" انګر Ingreد طراحۍ په برخه کې د ناتوراليست مکتب تر ټولو مشهور استازيتوب کوي ".

په فلسفه کې ناتوراليزم د هغو کسانو نظام دی چې طبيعت د لومړي اصل په توګه مني او د هر څه نسبت هغه ته کوي . د اپيکوريان څخه نيولې تر پوزيټيويستانو پوري چې دې کې ګاساندي Gassendiاو د دايرةالمعارف انډيوالان ځاييدای سي.

دا وراشه د ځينو کره کتونکو په نظر يو قياسي مفهوم لري او هغه ليکوالو ته ويل کيږي چې د ويکتور هوګو په وينا ( د پيړۍ کيسه ۱۸۵۹) " هڅه کوي چې له ټولنيزو ستونزو سره هغه چارې وکړي چې يو طبيعت پوه يې د ژويو پوهني feral scieneسره کوي " بودلر په ۱۸٤۸ ز کال کې بالزاک ته " طبيعت پوه... مشاهده کوونکی... او ناتورالست" وايي .

د زولا ناتوراليزم د حقيقت سره بې پايه وفاداري او يو ډول ښكلاپوهنه ده او هم پوزيتويزم ته ادبي اړتيا وركول دي او په پايله كې د طبيعي تاريخي ميتودونو يو ډول ناول ته راوړل دي.

زولا په خپل اثر «تجربوي ناول» كې دا نظريه وړاندې كړه چې ناول بايد د ساينس په شان وي: ليكوال بايد لكه يو ساينسپوه مشاهده وكړي، فرضيه جوړه كړي او بيا يې په كيسه كې وازمويي. د دې نظر تر شا درې اساسي سرچينې دي: د اګوست كنټ پوزيتيويزم، د ډاروين د تكامل تيوري، او د كلود برنار تجربوي ميتود.

پوزيتيويزم وايي چې يوازې هغه څه رښتيا دي چې د حس له لارې درک كېدی سي. ډاروين انسان د طبيعت يوه برخه ګڼي، نه يو استثنا او دژوند او وراثت قوانين باندي پلي كوي.

برنار وايي چې حقيقت بايد د تجربې له لارې كشف سي. ناتوراليزم دا درې واړه ادبياتو ته راوړي.

**مسعود:** د هر ادبي مكتب ډېرې نښې د پخوانۍ دورې په ادبي اثارو كې موندل كېدای شي او د هر ادبي او هنري مكتب رامنځته كېدنه د خپلې دورې د ځانګړو ټولنيزو، كلتوري، سياسي او تاريخي شرايطو او د فلسفي افكارو تر اغيزې لاندې وي. ستاسو په اند هغه عوامل او انګيزې څه دي چې د ناتوراليسم مكتب د رامنځته كيدو لامل شوي دي؟

**ډاكټر رشاد:** د دې مكتب د رامنځته كېدو لاملونه څو اړخيز دي. له علمي اړخه، د ډاروين نظريې او د ساينس پرمختګ د انسان پر ازادې ارادې شک پيدا كړ. له ټولنيز اړخه، صنعتي انقلاب يوه نوې غريبه طبقه پيدا كړه چې تر هغه مخكې ادبياتو

کې نه ښکارېده. له ادبي اړخه ناتوراليزم د رومانتيزم د احساساتي مبالغې او د واقعيت پالنې د نيمګړتياوو پر ضد يو غبرګون و.

سياسي شرايط هم مهم ول: سانسور، بېعدالتي او د دوهمې ستړواکۍ فشارونو ليکوالان دې ته اړ کړل چې د ښکلي خيال پر ځای سخت واقعيت وښيي.

**مسعود:** تاسو د ناتوراليسم د مکتب آرونه، بنسټيزې او مهمې قاعدې، اړينې ځانګړنې او غوره ځانګړتياوې او د ناتوراليسم سبک، تګلوري او ارزښتونه څنګه ارزوئ؟

**ډاکټر رشاد:** د ناتوراليزم قوت په دې کې دی چې ژوند بېپردې ښيي. هغه موضوعات چې مخکې شرمناک يا پټ بلل کېدل لکه فقر، فساد، جنسي انحراف ،دا ټول يې ادبياتو ته رانډايستل. د حسي جزيياتو او تجربو دقيق بيان يې هم ځانګړنه ده، چې لوستونکی د صحنې برخه ګرځوي.

خو کمزورۍ يې هم څرګندې دي: جبرپالنه يې دومره قوي ده چې انسان بېاختياره ښکاري، بدبيني يې تر حده اوړي او کله کله د علمي تقليد له امله ادبي ښکلا کمزورې کېږي.

سره له دې، ارزښت يې دا دی چې ادبيات يې له خيال څخه راکښته کړل او د ټولنيزو حقيقتونو بيان يې ممکن کړ .

**مسعود:** ناتوراليسم چې له فلسفي پلوه يو هنري خوځښت دی، په اصل کې يوه اصطلاح ده چې د علم، ساينس، فلسفې او هنري تنقيد او کره کتنې له ژبې څخه ادب ته داخله شوې ده. تاسو دا مکتب د فلسفي افکارو په رڼا کې څنګه ارزوئ؟

**ډاکټر رشاد:** له فلسفي اړخه، ناتوراليزم د ماديت پالنې او ميخانيکي ماټرياليزم يوه بڼه ده. انسان پکې د طبيعي قوانينو تابع يو موجود دی، نه يو ازاد فاعل. دا فکر د هابز، ديدرو او هلوتيوس له نظرياتو سره تړاو لري.

دغه ليد وروسته د اګزيستانسياليستانو له خوا نقد سو، ځکه هغوی ويل چې انسان بايد ازاد وي او خپل انتخاب ولري.

**مسعود:** شوپنهاور (زيږيدنه: ۱۷۸۸، مړينه: ۱۸۶۰) يو آلماني فيلسوف دی چې په اروپا کې يو له سترو فيلسوفانو څخه شمېرل کېږي او د اخلاقو، هنر، معاصر ادب او نوې ارواپوهنې په برخه کې په تاريخ کې ترټولو اغيزمن فيلسوف دی. نوموړي ډېر ليکوال او له هغې ډلې څخه د تاتوراليسم د مکتب ليکوال يې هم اغيزمن کړې دي. تاسو په ناتوراليستو ليکوالو کې د شوپنهاور د فلسفې اغيز په تړاو څنګه اندئ؟

**ډاکټر رشاد:** د شوپنهاور فلسفه، که څه هم مستقيمه نه ده، خو پر ناتوراليزم اغېز لري. هغه نړۍ د ړندې ارادې محصول ګڼله او ژوند يې له رنځ سره تړلی باله. دا بدبيني د ناتوراليزم له فضا سره نژدې ده.

خو توپير يې دا دی چې شوپنهاور هنر په تيره بيا موسيقي د لنډ مهاله خلاصون وسيله ګڼي، خو ناتوراليزم داسې هيڅ هيله نه پرېږدي.

**مسعود:** په ادبياتو او هنر کې د ناتوراليسم د بنوونځی د آرونو او بنسټونو په اړه څه ليد لرئ؟ تاسو په ادبي ناتوراليسم کې مهم توکي څنګه ارزوئ؟

**ډاکټر رشاد:** د ناتوراليزم مهم عناصر دا دي: شخصيت د ميراث د چاپېريال محصول دی؛ چاپېريال فعال او د اصلی شخصيت راوی دی او روايت بيا کلينيکي

او عیني  وي؛ پلاټ ساده او ژبه یې سیده او مستقیمه وي او ډېر وخت مستند او تکراري  جزیات کارېږي.

**مسعود:** امیل اډوارډ شارل انتون زولا (زیږیدنه: ۱۸٤۰، مړینه: ۱۹۰۲)رمان لیکونکی، ډرامه لیکونکی، ژورنالیست، تر ټولو نامتو فرانسوی لیکوال، چې د ناتورالیسم د غورځنګ یو له مهمو مخکښانو او بنسټ ایښودونکو څخه شمیرل کیږي. مهرباني وکړئ د دې نامتو لیکوال د اندونو او افکارو، عقایدو، لید توګو د علم او ساینس د تیورۍ او پرمختګ په برخه کې په ځانګړې توګه د فیزیولوژي او جیولوژي د علم  په تړاو  او د ده د نوموتو اثارو په اړه  په لنډه توګه خپل مالومات راسره شریک کړئ؟

**ډاکټر رشاد:** ایمیل زولا (Émile Zola) د نولسمې پېړۍ له هغو سترو فرانسوي لیکوالانو، ژورنالستانو او مفکرانو څخه و، چې د ناتورالیسم (Naturalism) ادبي مکتب بنسټګر ګڼل کېږي. نوموړی په ۱۸۴۰م کال کې په پاریس کې زېږېدلی او په ۱۹۰۲م کال په کور کې  د لوګي او د مونګاز یا کاربن مونو اکسایډ (Carbon Monoxide)  ګاز له امله مسموم او  ومړ . زولا یوازې یو ناول لیکونکی او ادیب نه و، بلکې یو ټولنیز متفکر، سیاسي فعال او د حقیقت غوښتونکی هم و.

زولا په دې باور و، چې ادب باید یوازې د خیال او رومانتیک احساس څرګندونه نه وي، بلکې د انسانانو واقعي ژوند، ستونزې، ټولنیز حالت او طبیعي شرایط باید په دقیق او علمي ډول انځور کړي. هغه به ویل: «لیکوال باید لکه یو ساینسپوه ټولنه مطالعه کړي او واقعیتونه د تجربې له لارې وڅېړي«.

د زولا علمي او فلسفي نظریات:

زولا د ساینس له پرمختگونو ډېر اغېزمن سوی و، په تېره بیا د فیزیولوژی، بیولوژی، جیولوژی، وراثت او ټولنپوهنې څخه . هغه د فرانسوي فیزیولوژیست کلود برنارد (Claude Bernard) نظریات مطالعه کړي وو، چې باور یې درلود انسان او طبیعت باید د تجربوي علومو له لارې وپلټل سي. زولا دا نظر ادبیاتو ته راواړاوه.

جیولوژی(مځکپوهنې) علم د ناتورالیزم په رامنځته کولو کې غیر مستقیم خو مهم رول درلود ځکه جیولوژي ښیي چې طبیعت او چاپېریال د مځکې جوړښت بدلوي . زولا هم باور درلود چې د انسان شخصیت او چلند د چاپېریال، ټولنیزو شرایطو او وراثت له خوا ټاکل کیږي. یعني لکه څنګه چې طبیعي قواوي غرونه او د مځکې طبقې جوړوي همداسي ټولنیز او فزیکي شرایط انسان جوړوي .

جیولوژي نړۍ د مادي قوانینو له مخې تشریح کوي او ناتورالیزم انسان بیا د دغه طبیعت یوه برخه ګڼي .

ده ویل : لکه څنګه چې ساینسپوه په لابراتوار کې تجربه کوي همداسي لیکوال باید انسانان او ټولنه وڅېړي او وښني ځکه نو ده خپل ادبي سبک ته " تجربوي ناول " ویلی و.

هغه استدلال کاوه چې:

انسان د خپل چاپېریال (Environment)محصول دی یعني هغه فضا او ماحول چې انسان بکې ژوند کوي لکه کور، کوڅه ، کارځای او داسي نور.

وراثت (Inheritance) د پلرونو او نیکونو خویونه چې انسان ته رالیږدي او د انسان پر اخلاقو، مزاج او چلند ژور اغېز لري.

ټولنیز شرایط (Social conditions) هغه تاریخي او ټولنیز حالت لکه جګړه، فقر، بډایتوب او داسي نور.

ځکه فقر، ټولنیز ظلم، شراب، فساد او اقتصادي فشار د انسان شخصیت بدلوي.

هغه ویل :"انسان د ټولني او طبیعت ګډ موجود دی چې د هغه اعمال د دې دواړو تر فشار لاندي تر سره کیږي" .

خو د لیکوال دنده داده چې د ټولنې پټ حقیقتونه او دردونه بربنډ کړي، هغه څه چې نور ورته پام نه کوي.

د ناتورالیسم په اړه د زولا نظر:

زولا به ویل: «ناتورالیسم د ریالیزم پرمختلونکې بڼه ده.» ریالیزم یوازې حقیقت بیانوي، خو ناتورالیسم د حقیقت تر شا لاملونه هم لټوي. د ده په اند: «انسان د طبیعت، ارث او چاپېریال تر اغېز لاندې دی.» نو ځکه د زولا په ناولونو کې انسان اکثراً د ټولنیزو شرایطو قرباني ښودل سوی.

د زولا مشهور آثار:

ژرمینال :(Germinal) دا دزولا تر ټولو غوره ناول ګڼل کیږي.  په دې اثر کې د فرانسې د سکرو کانونو د کارګرانو د ژوند کیسه ده چې  په کې فقر، زبېښاک(استثمار) ، لوږه او طبقاتي مبارزه په دردونکي ډول انځور سوې.

د دې ناول نوم د فرانسوي انقلابي کلیزې د یوې میاشتنۍ(چې د پسرلي مانا لري ) څخه اخیستل سوی خو په دې کې فضا ډېره تیاره او دسختۍ ده.

تیریس راکېن :(Thérèse Raquin) د انساني شهوت، جرم او رواني عذاب ناول دی.

دا د يوې نجلۍ کيسه ده چې د خپل ناروغ ميړه سره په مينه کې د يو بل سړي سره ملګرتيا کوي. زولا په دې ناول کې د انسان رواني عذاب او تر جرم وروسته وجدان ډېر ښکلی انځور کړي دی.

نانا :(Nana) د فرانسوي ټولنې اخلاقي فساد او د يوې بدلمنې (فاحشې )د ژوند انځور دی.

دا د يوې رنډۍ(فاحشې) کيسه ده چې د فرانسې د دوهمې سترواکۍ (ناپليون) په زمانه کې د اشرافو او بډايو خلکو اخلاقي فساد رسوا کوي او دا د ټولنې ويرونکې هينداره ده . L'Assommoir دشرابو ناوړه اغېزې او د مزدورې طبقې بدبختي پکښې بيان سوې چې د شرابخورۍ او بيوزلۍ دردناک انځور دی

روګون ماکار :(Les Rougon-Macquart) د شلو ناولونو يوه لويه ټولګه ده چې د يوې کورنۍ څو نسلونه پکښې راغلي او څېړل سوي. زولا هڅه کړې چې وښيي ارث او چاپېريال څنګه د انسان برخليک ټاکي.

سياسي او ټولنيز رول:

زولا د عدالت ږغ و او زړور مبارز هم و ، هغه د «ډريفوس قضيې Dreyfus) « Affair)په نامه مشهوره سياسي پيښه کې يې د يوه بېګناه افسر دفاع وکړه او خپله مشهوره مقاله «زه تور(اتهام) لګوم (J'Accuse) «يې وليکله او په هغه کې د فرانسوي پوځ او ح پر لوړ پوړو چ تورونه ولګول او دې کار د هغه ژوند له خط سره مخامخ کړ خو ده عدالت تر هر څه لوړ وګاڼه چې د فرانسې په سياسي تاريخ کې ډېر ارزښت لري.

**مسعود:** په ادبياتو کې، "اميل زولا" هغه فرانسوي ليکوال، کره کتونکی او سياستوال وو، چې د شلو ټوکونو ټولګه يې د (۱۸۷۱)ز تر (۱۸۹۳)ز کلونو په منځ

کې د (روګن ماکار) په نوم کنبلې ده. نوموړی د دې ټولګې په لیکنو سره زیات مشهور شو. امیل زولا د ناتورالیسم د ادبیاتو اغېزمن بنسټ ایښېدونکی دی او د ناتورالیسم پر ادبیاتو یې زیات اغېز پرېښی دی. ده د فرانسې ټولنه په خپلو ګټورو آثارو کې انځور کړې ده. ښه به وي که د دغې نامتو لیکوال د عقایدو، اندونو او لاسته راوړنو په اړه او د «روګن ماکار» د ټولګې د منځپانګې، سکالو، مضمون او پیغام په تړاو لنډ مالومات راکړئ.

**ډاکټر رشاد:** ایمیل زولا د دې مکتب تر ټولو مهم استازی دی. هغه غوښتل چې ناول د ساینس په شان کړي. د هغه «روګن ماکار» لړۍ ، یوې کورنۍ د نسلونو له لارې دا ښیي چې څنګه میراث او چاپېریال د انسان ژوند ټاکي.

هغه یوازې ادیب نه و، بلکې سیاسي فعال هم و. د «زه تورنوم ( زه متهم کوم) ....!» سرخلاصی لیک د دریفوس پیښه ده چې د روڼاندۍ د عدالت غوښتنې یوه تاریخي بېلګه یې بللای سو.

**مسعود:** ویل کیږي چې "امیل زولا" د خپل ژوند په لومړیو کې د «انوره دو بالزاک» له اثارو سره بلد شوی وو، کوم چې یو له مشهورو فرانسوي لیکوالو څخه وو او له (۹۰) څخه زیات ناولونه او داستانونه او لنډې کیسې یې لیکلي دي. امیل زولا هغه څوک وو چې د بالزاک پوهه او ګټور او اغېزمن آثار یې ډېر ښه وپېژندل. همدا دلیل وه چې د بالزاک اثار په هغه باندې ژوره اغیزه درلوده او دی یې دې ته وهڅوو چې خپل ځانګړي آثار ولیکي. تاسو د دغو دوو نوموتو لیکوالو د پېژندل شوو اثارو په رڼا کې د هغوی عقاید، افکار، لید توګي او لید لوري څنګه پرتله کوئ؟

**ډاکټر رشاد:** زولا او بالزاک ترمنځ توپیر دا دی چې بالزاک د انسان پر اراده باور لري، خو زولا هر څه د طبیعي جبر نتیجه ګڼي. سره له دې هم زولا د بالزاک له ټولنیز لید څخه ډېر څه زده کړي دي.

**مسعود:** ستاسو په اند، د بالزاک سربیره، امیل زولا د نورو نامتو لیکوالو او د هغوی د قیمتي او ګرانبیو اثارو تر اغیز لاندې هم وو او که نه؟ که وو، نو په لنډه توګه د دغو لیکوالو د آثارو په تړاو لنډه رڼایي واچوئ

**ډاکټر رشاد:** پر زولا نور لیکوال لکه ګونکور وروڼه، فلوبر، هوګو، تورګینیف او تولستوی اغېز لري. فلوبر هغه ته بې‌طرفه روایت ور زده کړ، او نور لیکوالانو د ټولنیز او هنري پراخوالي حس ورکړ.

**مسعود:** ویل شوې دي: د فلسفي لیدلوري له مخې، ناتورالیسم د تحقیقي فلسفې (پوزیتویسم) یا اثباتي فلسفې پر بنسټ ولاړ دی او د رومانتیک له لرې تخیلاتو څخه یې ځان لرې کړی دی ... د فلسفي افکارو په رڼا کې په دې اړه ستاسو لید څه دی؟

**ډاکټر رشاد:** ناتورالیزم د پوزیتیویزم ادبي بڼه ده. دواړه پر مشاهده، تجربه او علمي میتود ټینګار کوي. خو وروسته دا نظریه نقد سوه، ځکه ادبیات د ساینس په شان دقیق نه سي کېدای.

**مسعود:** ویل شوې دي: د امیل زولا تر څنګ، «تورګینف» (زیږیدنه: ۱۸۱۸ز، مړینه: ۱۸۸۳ز) روسي رومان لیکونکی، شاعر او ډرامه لیکونکی وو. او جورج الیوټ (زیږیدنه : ۱۸۱۹ز، مړینه: ۱۸۸۰ز) انګلیسي رومان لیکونکی. دا دواړه هم د ناتورالیسم د مکتب له مخکښانو څخه ول. که مهرباني وکړئ د دغو

لیکوالو د اندو واندو''افکارو او نظریاتو''، عقایدو او ادبي او هنري کارونو او گټورو آثارو په تړاو لنډه  روښاني واچوئ.

**ډاکټر رشاد:** تورگینیف او جورج الیوټ د ناتورالیزم نرمې بڼې وړاندې کوي. په ځانگړې توگه الیوټ د جبر تر څنگ د اخلاقو لپاره هم ځای پرېږدي.

**مسعود:** د ناتورالیسم یا طبیعیت گرایی او ریالیزم یا واقعگرایي او رښتیني لیکنې، د داستاني لیکوالو د سبک او تگلوري په اړوند، د داستاني ادبیاتو، نامتو او پېژندل شوي داستان لیکونکي، کره کتونکي او منتقدین څه لید لري؟

**ډاکټر رشاد:** ناتورالیزم او واقعیت پالنه سره نږدې دي، خو توپیر یې دا دی چې واقعیت پالنه د بدلون امکان مني، خو ناتورالیزم انسان محدود گڼي.

**مسعود:** د ناتورالیسم د داستانونو مهمې ځانگړتیاوې څنگه ارزوئ؟ د ناتورالیسم د سبک او تگلوري تر ټولو مهم او نوموتي داستانونه کوم دي او د دې سبک او طرز پېژندل شوي او غوره داستان لیکونکي څوک دي.

**ډاکټر رشاد:** ناتورالیستي کیسې خطي وي، جزیات دقیق وي، ژبه عامیانه او پایله اکثره بدبینانه وي. موپاسان، هارډي، جیک لندن او ډرایزر یې مهم استازي دي.

**مسعود:** د ناتورالیسم مکتب هغه ادبي خوځښت دی چې د ریالیزم له زړه څخه راپورته شوی او د ژوند او واقعیت رښتینی بیان دی او په خپلو طریقو او موخو کې یو څه ورته والی لري. تاسو د دوی مشترکه وجه او ارزښت څنگه ارزوئ؟

**ډاکټر رشاد:** ناتورالیزم وروسته کمزوری سو، خو اغېز یې لا هم په سینما، معاصر ادب او ژورنالیزم کې پاته سوی دی. دا مکتب ادبیات له خیال څخه واقعیت ته راواړول او د انسان د ژوند پټې برخې یې ښکاره کړې.

**مسعود:** ویل کېږي: د ناتورالیسم ښوونځی هغه ادبي او هنري مکتب دی، چې د نامتو لیکوالو او بنسټ ایښودونکو تر څنګ، توماس هاردي (زیږیدنه: ۱۸٤۰ز، مړینه: ۱۹۲۷ز)، تر ټولو نوموتی انګلیسي لیکوال، ناول لیکونکی، شاعر او د لنډې کیسې او داستانونو لیکوال، جګ لندن (زیږیدنه: ۱۸٦۷ ز او مړینه: ۱۹۱٦ز) د شلمې پیړۍ یو له پېژاندو امریکایي لیکوالو څخه وو، وګي ډوموپاسان (زیږیدنه: ۱۸۵۰ز، مړینه: ۱۸۹۳ز) د نولسمې پیړۍ یو له سترو فرانسوي کیسه لیکونکو څخه وو. دا ټول لیکوال د ناتورالیسم د ادبیاتو له مخکښو لیکوالو څخه ول. ښه به وي که د دغو نامتو لیکوالو د عقایدو، اندونو او لاسته راوړنو او ښښیرونو(اثارو)په اړه لنډ مالومات راکړئ.

**ډاکټر رشاد:** ۱- توماس هارډي:(Thomas Hardy) د انګلستان مشهور لیکوال، شاعر او ناول لیکونکی چې ۱۸٤۰ ز کې زیږیدلی دی.

هغه په خپلو اثارو کې د کلیوالي دودیز او سخت ژوند، ټولنیزو محدودیتونو، د تقدیر جبر او د انسان د ناکامیو خوپ (تت) انځور وړاندې کوي.

د هارډي نظریات:

انسان تل د ټولنې او تقدیر قرباني کېږي.

ټولنیز قوانین ډیری ظالمانه وي.

مینه او انساني احساسات د ټولنې له سختو فشارونو څخه ماته خوري.

ده انسان د یو بې وسه موجود په توګه معرفي کاوه چې د یو ظالم او مبهم تقدیر (fate)تر ولکې لاندي ژوند کوي .

ده د ویکټوریا د وخت پر ټولنیزو بندیزونو، د واده پر قوانینو او د کلیسا پر ریا کارۍ سخته نیوکه کوله.

مشهور آثار یې:

ټېس دې اوربرویلي :(Tess of the d'Urbervilles) د یوې پاکې او بېوزلې نجلۍ غمجنه کیسه ده چې د ټولنې د ظلمونو او د یو سړي د خیانت قرباني کیږي.

دا ناول د ښځو د مظلومیت یوه ژړا ده.

له لیونۍ ګڼې کوڼې څخه لیرې :(Far from the Madding Crowd) د مینې او کلیوالي ژوند کیسه ده.

ناپیژانده( مبهم) جود :(Jude the Obscure) د زده کړو، مذهب او ټولنیزو محدودیتونو ستونزې یادي سوي دي.

دا د یو بیوزلي هلک کیسه ده چې غواړي عالم او ملا سي خو د ټولني طبقاتي خنډونه یې له دې خوب و خیاله بې برخې کوي.

دا اثر دومره جنجالي و چې ځینو کلیساګانو اور ورواچاوه .

۲ -جک لندن:(Jack London)

د امریکا مشهور لیکوال و، چې د طبیعت، د سخت ژوند بقا او ټولنیزو ستونزو په اړه یې لیکل کول، د انسان او طبیعت ترمنځ یې سختې مبارزې انځورولې.

ده خپله د ژوند ډیرې ستونزې لیدلي وې ، له بیوزلۍ یې د سروزرو په لټه الاسکا ته سفر کړی و.

د جک لندن افکار:

ژوند د بقا یوه ستونزمنه مبارزه ده (Survival of the fittest)، ده باور درلود چې ژوند یوه تلپاتې مبارزه ده او یوازې هغه څوک چې غښتلی، هوښیار او د بدلون وړتیا لري بریالی کیږي .

طبیعت پر انسان غالب دی.

یوازې قوي انسان ژوندی پاتې کیږي.

د ده په افکارو کې د ټولنیز ډاروینیزم (Social Darwinism) اغېز څرګند دی.

مشهور آثار یې:

د وحشت ږغ :(The Call of the Wild) د یوه سپي "بک" کیسه ده چې له ارامه کوره د الاسکا د واورو او سړو سختې سیمې ته وړل کیږي او په پای کې خپل اصلي وحشي طبیعت ته راګرځي.

سپین فنګ (سپین غاښی ) :(White Fang)د انسان او حیوان تر منځ اړیکې بیانوي.

دا د یو شرموښ یا لیوه کیسه ده چې د انسان له خوا نیول کیږي خو بیا هم له خپلو غریزو سره مبارزه کوي .

مارتین اېډن :(Martin Eden) دا د یو بیوزله سمندري سړي کیسه ده چې غواړي لیکوال سي او د یوې بډایې نجلۍ مینه خپله کړي .

دا ډیر د ده د خپل ژوند ناول دی.

دی د بقا ، فقر ، طبقاتي مبارزې او انساني غریزو په بیان کې ډیر پیاوړی دی.

ګي دو موپاسان:(Guy de Maupassant)

د فرانسې مشهور کیسه لیکونکی او د لنډې کیسې استاد بلل کېږي.

ده په خپلو لنډو خو په زړه پورو کیسو کې د انسان نفسي حالتونه، جنسي غوښتنې، حرص او ټولنیز فساد په ډېر مهارت لیکي دي .

د موپاسان نظریات: دی ډېر بدبین ( Pessimist)و او د ده په نظر:

انسان ډېر وخت د خپل نفس او شهوت تابع وي.

ټولنه له دباندي اخلاقي ښکاري خو دننه له ریا او فساده ډکه ده.

انساني کمزورۍ باید په ریښتیني او بربنډه توګه وښودل سي.

د هغه په کیسو کې انسان ډېری د خپلو غریزو قرباني کیږي .

مشهور آثار یې:

بیل آمی :(Bel-Ami) د یوه فرصت طلبه او ځانغوښتونکي انسان کیسه ده چې د ښځو او درواغو په زور د فرانسوي ټولنې تر لوړو پوړیو رسیږي .

د ټال ګیند یا توپ (Boule de Suif)دا د هغه لومړنی او مشهور ناول دی.

په دې کې د یوې بدلمنې (فاحشې) او د فرانسوي اشرافو د یوې ډلې کیسه ده چې د احساساتو او دښمنۍ په وخت کې د هرچا اصلي مخ ښکاري .

یو ژوند :(Une Vie) د یوې ښځې د ناکام او دردناک ژوند داستان دی.

ګاڼه یا ګینه :(La Parure) د جګړې او انساني منافقت په اړه مشهوره کیسه ده.

چارلس دیکنز (Charles Dickens)د انګلستان مشهور ناول لیکوال و. هغه د ۱۹مې پیړۍ له تر ټولومهمو لیکوالو څخه ګڼل کیږي .

ډیکنز زیاتره د ریالیزم ( Realism)له ادبي مکتب سره تړل کیږي نه نګه(خالص) ناتورالیزم سره خو هغه په خپلو ناولونو کې لکه ناتورالیزم د ټولنې د خوارانو ستونزي، بیوزلي، دکوچنیانو سخت ژوند او د صنعتي انقلاب اغیزې انځورولې اما انسان یې لکه ناتورالیستانو غوندي مجبور نه ګاڼه لکه ده هغه په دې اثارو کې:

الیور ټویسټ : (Oliver Twist)دا د الیور یتیم د بیوزلۍ، ظلم او سخت ژوند کیسه ده خو بیا هم هغه خپل ښه اخلاق ساتي او شرایط د هغه خوی نه بدلوي.

ډیویډ کاپرفیلډ : ( David Copperfield)دا د ډیوډ هلک د ژوند کیسه ده چې له کوچینوالي تر ځوانۍ پوري له ډیرو ستونزو تیریږي. ناول د مبارزې ، زده کړې او بریا پیغام لري.

د دوو ښارونو کیسه : ( A Tale of Two Cities )دا ناول په لندن او پاریس کې د خلکو ژوند په انقلاب کې ښیي چې دې کې د عدالت، قربانۍ او مینې موضوعات ډیر مهم دي.

ستري هیلې : ( Great Expectations )دا د"پپ " په نوم د غریب هلک کیسه ده چې د بډای کیدو خوبونه ویني. دا ناول د انسان د هیلو ، اخلاقو او ژوند د بدلونونو په اړه ژور بحث دی.

**مسعود:** د طبیعت پوهانو په وینا، وراثت او چاپیریال د انسان د برخلیک اصلي ټاکونکي دي. د دې مکتب او ریالیزم تر منځ توپیر دا دی چې په ریالیستي ښیرونو(آثارو)کې انسان تل تر خپل چاپېریال مهم وي، خو په تاتورالیسم کې د انسان اهمیت د شیانو له اهمیت نه زیات نه دی. تاسو د فلسفي افکارو په رڼا کې په دې تړاو څه لید لرئ؟

**ډاکټر رشاد:** ریالیزم او ناتورالیسم دواړه د حقیقت د انځورولو مکتبونه دي، خو مهم توپیرونه لري:

ریالیزم انسان ته ارزښت ورکوي خو ناتورالیزم چاپېریال ته زیات ارزښت ورکوي.

ریالیزم کې انسان نسبي ازادي لري خو په ناتورالیزم کې انسان د جبر قرباني دی.

ریالیزم اخلاقي انتخاب مهم ګڼي خو ناتوراایزم وراثت او طبیعت مهم ګڼي.

ریالیزم متوازن حقیقت وړاندې کوي خو ناتورالیزم تور او سخت حقیقت وړاندې کوي.

نو ویلای سو چې ریالیزم انسان یو ارادي ټولنیز موجود ګڼي خو ناتورالیزم انسان یو بیولوژیکي مجبور موجود ګڼي ، په ریالیزم کې انسان کولای سي د عقل او ارادې په مټ خپل برخلیک بدل کړي خو ناتورالیزم کې انسان د خپل وراثت، چاپیریال او غریزو له خوا مجبور کړی سوی دی.

د ریالیزم تمرکز د ټولنې پر روښانه انځورولو او ډېر د منځنۍ طبقې پر ستونزو او اخلاقو دی خو د ناتورالیزم تمرکز ډېر پر کښته طبقې او د هغو پر ستونزو او تیاره اړخونو راڅرخي.

فلسفي ارزونه:

ناتورالیستان د جبریت (Determinism) پلویان وو. دوی باور درلود چې انسان د ارث، طبیعت او ټولنې تر اغېز لاندې دی او بشپړه آزادي نه لري. خو وروسته فیلسوفانو لکه سارتر (Sartre) استدلال وکړ چې انسان د انتخاب حق لري او

کولای سي خپل برخلیک بدل کړي. د حق خبره خو داده چې انسان هم د چاپیریال تر اغېز لاندې وي او هم د ارادې او فکر ځواک لري.

هر څه د علت او معلول له مخې ټاکل کېږي .

په دې اړه د چالیرز دیکنز امیل زولا، توماس هارډي، جک لندن او موپاسان تر څنګ د (Madame Bovary)لیکوال ګوستاو فلوبر هم یادولای سو.

**مسعود:** د نقاشۍ په برخه کې د ځانګړي ښوونځي په توګه، د ناتورالیسم اصطلاح د لومړي ځل لپاره د چا لخوا، چیرته او کله وکارول شوه؟ د ناتورالیسم د ښوونځي د هنرونو، انځورونو او نقاشیو په برخه کې، کوم ښنیرونه(اثار) تر ټولو اغېزمن، ارزښتمن او د پام وړ دي، او د دې ښنیرونو(اثارو)نامتو او پېژاندو انځورګرانو نومونه او کارنامې او ښنیرونه(اثار) یې راته په ګوته کړئ؟

**ډاکټر رشاد:** په هنر کې د ناتورالیسم اصطلاح په فرانسه کې د اتلسمي او نولسمې پېړۍ له انقلابونو وروسته رواج سوه. هنرمندانو غوښتل چې له مذهبي او تاریخي خیالي انځورونو څخه خلاصون ومومی، طبیعت او انسان له کومې مبالغې پرته، لکه څنګه چې دي، انځور کړي.

ځانګړتیاوې:

واقعي انځورګري، له افسانوي یا رومانتیکو عناصرو پرته.

د طبیعت دقیق انځور وړاندي کول.

د عادي خلکو لکه بزګرانو، مزدورانو، خوارانو ، کوڅه ډبو او داسي نورو ژوند انځورول.

مشهور انځورګران:

گوستاو کوربه :(Gustave Courbet) د ناتورالیستی نقاشی بنسټګر ګڼل کیږي ده ویل:" زه پرښته (ملایکه ) نه انځوروم ځکه ما نه ده لیدلې" خو دی د فرانسوي ریالیزم او هم ناتورالیسم مهم استازی دی .

مشهور اثار یې : «د نړۍ سرچینه» او «د اورنانس په ګورستان کې ښخېدل» او د ډبري ماتونکي ( The Stone Breakers)چې  د دوو بې وزلو کارګرانو انځور یې د ټولنې لپاره لوی چلنج و.

ژان فرانسوا میله :(Jean-François Millet) د بزګرانو او کروندګرو د مینې او خواری انځورګر و.

مشهور اثر یې : «غلې ټولونکي :(The Gleaners) «چې درې ښځې تر کښتې وروسته د پاتې غنمو د تللو په حال کې انځوروي.

هونوره داومیه :( Honoré Daumier)د ټولنیز ظلم او قانوني فساد کارټونیسټ او انځورګر .

مشهور اثار یې :

د بیوزلو سفر

(Wagon de troisieme classe)

او Gargantua یو سیاسي کارټون چې د فرانسې پاچا  Louis- philippe یې د لغاز په ډول انځور کړی و او له همدې امله زنداني سو.

ایلیا ریپین :(Ilya Repin) روسي انځورګر.

مشهور اثر یې: «د ولګا سیند پر غاړه پنډي یا جوالي».

**مسعود:** د ننداري''تياتر''، ډرامې، سینما او د فلمونو په جوړولو کې او همداسې د عکاسۍ او معمارۍ په برخه کې د ناتورالیسم د سبک اصلي او مهمې ځانګړتیاوې څه ډول ارزوئ؟ د دې سبک د نامتو فلمونو، عکاسۍ، ډرامې او تیاتر او معمارۍ د مهمو پېژندل شویو استازو په تړاو لنډه رڼا واچوئ؟

**ډاکټر رشاد:** ناتورالستي تیاتر هڅه کوي چې د ژوند واقعي بڼه له مصنوعي شیانو پرته وړاندې کړي .

ځانګړتیاوې یې : طبیعي خبرې، عادي کرکټرونه، واقعي صحنې، د ټولنیزو ستونزو څرګندونه .

مشهور ډرامه لیکوالان:

هېنریک ابسن (Henrik Ibsen) :ناروېژی لیکوال چې د کورنۍ او ټولنې تیاره اړخونه یې لکه «د یوه ګوډاګي کور» یا " کورنۍ ډار" ننداري ته وړاندې کړي دي.

انتون چیخوف :( Anton Chekhov)روسي لیکوال چې د انسانانو داخلي دردونه او ولسي خبرې یې لیکلې. مشهوره ډرامه یې د ګیلاسو ونو باغ The Cherry ) Orchard )چې د روسیې د اشرافو د زوال او ټولنیزو بدلونونو کیسه ده.

وانیا اکا یا تره : (Uncle Vanya)د کلیوالي ژوند، ناهیلیو او د انسان د دننه ستونزو انځور دی.

او اګسټ سټرېندبرګ : (August Strindberg)مشهور سویډني لیکوال، ډرامه لیکونکی او ناتورالیست ادیب و. هغه د اروپا د عصري تیاتر له مهمو بنسټګرو څخه دی.

د هغه تر ټولو مشهوره ډرامه:پیغله جولي (Miss Julie )ده چې د اشرافو او خادمانو ترمنځ د طبقاتي توپیر، مینې او رواني شخړو موضوع ښیي .

په سینما کې:

د ناتورالیزم اغېز په ایټالوي نیوریالیزم ( Neorealism)فلمونو کې ډېر ځرګند دی.

دغه فلمونه د فقر، کارګرانو او عادي خلکو ژوند په تت او مستند ډول انځوروي .

د ایټالیا مشهور فلم جوړونکی او ممثل ویتوریو دیسیکا (Vittorio De Sica) د ناتورالیستي سینما له مهمو بنسټګرو څخه و هغه په خپلو فلمونوکې د بیوزلوخلکو ،له جګرې وروسته ژوند او د ټولنې ربښتینې ستونزې په ډېر طبیعي او عاطفي ډول ښودلې دي.

مشهور فلم یې:

د بایسکل غل (Ladri di biciclette) (Bicycle Thieves) « ۱۹٤۸» :دا فلم د یو غریب پلار او زوی د ژوند ستونزي او د کار لپاره د بایسکل د غلا کیسه ده او د نړۍ له سترو شاهکارونو څخه ګڼل کیږي .

Umberto D (۱۹۵۲):

دا د یو زوړ متقاعد مامور کیسه ده چې یوازي ژوند کوي. فلم د فقر او د انسان د مجبورۍ ډېر قوي انځور وړاندي کوي .

Shoeshine (۱۹٤٦):

د دوو کوچنیو هلکانو کیسه ده چې بوټونه رنګوي خو په جرمونو کې ښکیل سي او زندان ته ځي.

:(۱۹٦۰)Two Women

د یوې مور او لور کیسه ده چې په جګړه کې له تاوتریخوالي او لوږي سره مخامخ کیږي. دا فلم د جګړې د وحشتونو له امله ډیر مشهور سو.

یو مشهور بریتانوي فلم جوړونکی کین لویچ (Ken Loach) دی چې د ټولنیز ریالیزم او ناتورالیستي سینما لپاره پیژندل کیږي.

هغه په خپلو فلمونو کې د کارګرې طبقې ، بیکارۍ، بیوزلۍ او ټولنیزو ستونزو ربښتنی ژوند انځوروي .

مشهور فلمونه یې :

Kes(۱۹٦۹)، (کیس)باز :

د یو بیوزله هلک کیسه ده چې په ښوونځي او کور کې له سخت ژوند سره مخ وي خو د یو کوچني باز(falcon)سره مینه پیدا کوي.

I, Daniel Blacke,ازه ډینل بلیک:

د یو ناروغ کارګر د دولتي نظام له ستونزو سره مبارزه.

هغه باد چې اوربشي رپوي)(The Wind That Shakes the Barley) ۲۰۰٦ :(د ایرلنډ د ازادۍ جګړې په اړه دی چې دوه وروڼه د انګریزانو سره په جګړه کې بیلې لارې انتخابوي. فلم د جګړې او سیاسي اختلاف دردونه ښیي.

بخښنه غواړو ، یادیږئ مو(Sorry, We Missed You) ۲۰۱۹ :(د یوې کورنۍ کیسه ده چې د(لنډمهاله ) کارونو تر فشار لاندي دي . فلم د معاصر کار بازار سخت واقعیتونه ښیي .

د کین فلمونه ډېر ساده،  واقعي او انساني عواطفو ته نژدې دي.

په عکاسۍ کې:

ناتوراليستي عکاسي :( Naturalistic Photography)هغه سبک دی چې هڅه کوي واقعيتونه هغسې وښيي لکه څنګه چې په طبيعي ژوند کې دي ، بې له زياتې جوړونې، مصنوعي رڼا يا دروند ايډټ ( editing)څخه يعني واقعيت ته نژدې ، مصنوعي ښکلا پکې کمه او د ژوند طبيعي شېبې ثبتوي.

عکاسان لکه ډوروتيا لانګ (Dorothea Lange) د لوی خپګان پر مهال د بېوزلو خلکو طبيعي او له تصنع پرته انځورونه اخيستل.

وجين ايګيټ (Eugene Atget)د پاريس د کوڅو ، زړو ودانيو او عامو خلکو رښتينی انځورنه بيله تصرفه اخيستل.

Henri Cartier-Bresson

د ده کارونه د ژوند طبيعي او نابېره شيبې ښيي .

Angel Adams

د طبيعت منظرې په توره او سپينه عکاسي کې.

Steve McCurry

د رنګه مستندي عکاسۍ تر ټولو پېژندل سوې څېره ده چې د Afghan Girlشين سترګي انجلۍ يې نړيوال شهرت پيدا کړ.

په معمارۍ کې:

ناتوراليستي معماري" د بنې ، جولې يا شکل دنده تعقيبوي د Form follows)"
(functionله اصولو پيروي کوي .

ساده‌گي، طبيعي مواد (لرگی، خښته، ډبره) او له چاپېريال سره همږغي.

د بيلګې په توګه د فرانک لويډ رائټ (Frank Lloyd Wright) عضوي  معماری .

**مسعود:** د موسيقۍ  په هنر کې د ناتوراليسم د ښوونځی د مهمو او اغېزمنو ځانګړتياوُ په اړوند څه ليد لرئ او د دوی نوموتي او مهم استازي څوک ول؟ هيله ده که تاسو د موسيقۍ په هنر کې د ناتوراليسم د هنرمندانو د هنري سبک او د هنري نامتو نښيرونو (اثارو)د ارزښت په اړه لنډه رڼا واچوئ.

**ډاکټر رشاد:** په موسيقۍ کې ناتوراليسم د طبيعت ږغونه، د ورځني ژوند اوازونه ، انساني عواطف او احساسات وړاندي کوي.

ځانګړتياوې:

·د طبيعي اوازونو کارونه لکه د باران، باد، د مرغانو ريز (سندرې).

·ژور، ځينې وخت خپه احساس.

·د واقعي فضا جوړول.

مشهور موسيقاران:

·لودويګ وان بېتوون :(Beethoven) د «پاستورال سمفونۍ» په شپږمه سمفوني کې د طبيعت ږغونه راوړي.

·بېلا بارتوک :(Béla Bartók) د ختيځې اروپا کليوالي موسيقي او طبيعي عناصر راوړي.

·جان کيج :(John Cage) د «۴ دقيقې او ۳۳ ثانيې» په نامه اثر کې يې د خاموشۍ او ناڅاپي ږغونو ناتورالستي تجربه کړې.

.جارج بزيه :( Georges Bizet)هغه مشهوره اوپرا کارمن ( Carmen) د هسپانيا په يوه فابريکه کې د يوې کارگرې ښځې د سخت ژوند کيسه ده چې له خيانت ،مينې او مرگه ډکه ده.

.جاکومو پوچيني ( Giacomo Puccini)د هغه اوپرا لا بوهم ( La Bohème)د پاريس د بيوزلو هنرمندانو او ليکوالانو د خوارۍ ژونکې کيسه ده.

**مسعود:** تاسو د ناتوراليسم د مکتب د زوال او د له منځه تللو لاملونه، انگيزې او اصلي عوامل څنگه ارزوئ؟

**ډاکټر رشاد:** ناتوراليزم انسان د وراثت، چاپيريال او ټولنيزو شرايطو اسير گڼي چې آزاده اراده هغه کې لږ رول لري .

خو وروسته ليکوالو او فيلسوفانو دا فکر ډېر "سخت" او " ميخانيکي " وباله ؛ دوی ويل چې انسان يوازې د طبيعت محصول نه دی بلکې هغه احساس، اراده او رواني اړخ هم لري .

ځکه د شلمې پېړۍ په پيل کې ناتوراليسم کمزوری سو چې مهم لاملونه يې دادي:

·ډېر تور او بدبينانه ليدلوری.

·د انسان د ارادې او ازادۍ ارزښت کم گڼل.

·د نويو ادبي او هنري مکتبونو لکه سمبولېزم(Symbolism) ، مدرنېزم (Modernism)او اگزيستانسيلېزم (Existentialism) ظهور.

·په هنر کې د تخیل او الهام کمښت.

·یوازې مادي اړخونو ته پاملرنه او له رواني اړخونو غفلت.

.د رواپوهنې پرمختګ: د سیګموند فروید (Sigmud Freud)او نورو سایکولوژیستانو نظریاتو و ښودله چې د انسان چلند یوازې د چاپېریال له امله نه وي بلکې لاشعوري، داخلي غوښتنې او رواني غروړی(غوټې) هم اغیز لري .

له همدې امله لیکوالو او هنرمندانو د انسان "دننني نړۍ" ته سر وربښکاره کړ او د ذهن جریان ( Stream of consciousness)یې وکاراوه .

وروسته مکتبونو لکه سمبولېزم او مدرنېزم د ناتورالیسم پر ځای د احساساتو، نښو او داخلي نړۍ انځورولو ته مخه کړه.

د انسان د ازادې ارادې او داخلي فضا ارزښت زیات سو او خلک یوازې په دغه علمي او مادي تفسیر باندي قانع نه سول.

خو سره له دې ناتورالیزم پر معاصر ناول ، ټولنیز ادب او واقعي ادبي سبکونو ژور اغېز پریښود.

**مسعود:** د پښتو ژبې د ادبي نښیرونو(اثارو)او ځانګړي ډولونو (ژانرونو) په اړه د ناتورالیسم د مکتب تګلورې او اصول څنګه ارزوي؟ مهرباني وکړئ د هغو نوموتو لیکوالو، ادیبانو او شاعرانو د نومونو او نښیرونو په تړاو، چې د ناتورالیسم له ښوونځی څخه اغېزمن شوې دي په لنډه توګه مالومات راکړئ.

**ډاکټر رشاد:** په پښتو ادب کې ناتورالیزم تر ډېره د شلمې پېړۍ له نیمایي وروسته څرګند سو، کله چې لیکوالو د ټولني واقعي ستونزې، فقر، بې‌وزلي، جګړې، مهاجرت او د انسان دردونه په واقعي ډول بیان کړل.

د ناتوراليزم ځانګړني په پښتو ادب کې:

د ژوند د حقيقتونو ريښتينی انځور

د غريبو او مظلومو خلکو يادونه

د چاپېريال اغېز پر انسان

د احساساتو پر ځای واقعيت ته پام

د کليوالو او ټولنيزو ستونزو بيان

د جګړو او بدبختيو ريښتينی انځور

ناتوراليزم په پښتو نثر کې:

١ .استاد ګل پاچا الفت:

په خپلو نثري ليکنو کې د افغان ولس غربت، بېعدالتي او ټولنيزي ستونزي په ډېر واقعي ډول بيان کړي دي.

لکه:

"د زيارت ډيوې" او " د شاعر تحفه"

په غربت او بېوزلۍ کې د کليوالي ژوند ستونزې او د انسان مجبوريتونه انځور کړي دي او هم يې د ظالم او مظلوم له پوسته جوړې تحفې راپېژندلې دي.

٢.علامه عبدالحی حبيبي:

سره له دې چې دده ليکنې ډيري څېړنيزې دي او په دې برخه کې د لومړيتوب حق لري خو په هنري نثر کې هم قلم خورا ښه چليدلی.

لکه:

"د پلار مړي د اختر خولۍ"

چې د خوار او بډای د ژوند ټولنیز توپیر په ریښتینې بڼه انځوروي.

۳ .نور محمد تره کی:

په خپلو کیسو او ناولونو کي د بزگرانو، مزدورانو او بېوزلو خلکو ژوند ډېر طبیعي او واقعي انځور کړی دی.

لکه:

«بنگ مسافري» ناول

«سپین» ناول

"د غوايي لاندی" لنډه کیسه

"د بزگر لور" لنډه کیسه

په دغو اثارو کې فقر، لوږه ، ټولنیز ظلم او طبقاتي ژوند ښودل سوی دی.

٤ .استاد عبدالروف بینوا:

د ټولني دردونه، د هیواد وران حالات او د خلکو ستونزي په ریښتیني انداز بیان کړي دي.

لکه:

"د زړه خواله"

دا اثر دده د خیالي ملگري سره د ټولیزو دردونو هینداره ده.

۵. پوهاند صدیق الله رشتین: د نثر بېلگه یې، « کلیوال ژوند »: کلی د غرونو په لمن کې پروت و، د چینې اوبه به د سهار له نسیم سره گډېدې او د بزگر د خولو بوی به له خاورو سره یو ځای پورته کېده. په نثر کې د طبیعت او کلیوالي ژوند انځور وړاندې کوي.

٦ .علامه رشاد بابا:

د غریبو پر ژوند یې د ژړا اسویلي انځور کړي او د دوی رښتینی ژوند یې را پیژندلي دي.

لکه:

" ژړاند لیمه او ویړي خولې"

چې د خوارې ښځې مجبوریت ځرگندوي.

"جگې مانۍ او وریښمینې جامې" چې د بډای هوس او سخت زړي ښیي او د خوار له فقره قرباني .

۷ .گل محمد بیتاب

د ډیورنډ کرښې ها خوا د غربت او بیبږزای ناتورالبستي انځور وړاندي کوي

لکه:

"د کلي ژوند " لنډې کیسې

او داسي نور تر نني ځوانو لیکوالو پوري.

۸ .عبدالوکیل سوله مل شینواری

چې په لنډو چیخوفي کیسو کې د ټولنې ستونزې په تیره بیا د ښځو کړاونه بیانوي چې ځینې ناتورالیستي دي.

لکه:

"بندي غړونه " د لنډو کیسو وروستۍ ټولګه یې  چې په ځینو ځایونو په تیره بیا په "بدل " کې له دودیزو پولو پښه اړوي او تابو ماتوي .

او داسي نور لیکوال .

ناتورالیزم په پښتو نظم او شعر کي

۱.قیام الدین خادم:

د واقعیت ویلو ژبه یې له دغه نیم بیتي څخه څرګنده ده چې وایي:" رښتیا رښنیا به وایم که وم وم که نه وم نه وم"  دا د ناتورالیزم یوه ښه بیلګه  ده.

لکه:

"د شاعر مسلک "  د رښتیا ویلو ډیره ښه او په زړه پوري وینا ده.

۲ .اجمل خټک

که څه هم ډیر ریالسټیک او انقلابي شاعر دی خو د ولس دردونه، بې‌وزلي او سیاسي ظلمونه یې په طبیعي او واقعي انداز بیان کړي دي.

لکه:

"جنت" نظم چې د ټولنې د بیلابیلو پوړیو له استازو څخه د جنت پوښتنه کوي او د ټولو پوهه په رښتینې توګه بې له تصرفه د هغو د نړۍ لید له زاویې بیانوي چې دا د ناتورالیزم یو ښه انځور دی.

۳ .غني خان

که څه هم زيات فلسفي شاعر دی، خو په ځينو شعرونو کي يې د انسان داخلي درد، طبيعت او ټولنيز حقيقتونه په ناتوراليستي بڼه راغلي دي.

د مايوسۍ يوه بيلګه يې دغه بيتونو کې:

ولی غم لکه اسمان په جهان خور دی؟

خدايه! ولي خوشالي دي کړه ناپايه؟

ولي جوړ دي کړه ننګي د ګل د پاڼو ؟

خدايه! ولي نشه بيايې له شرابه ؟

***

او يا " بابا ته" د شعر دا څو بيتونه:

ستا خطونه ټول زما سر ته پراته دي

زه يې لولم هره شپه دوباره دوباره

کله خاندم ، کله ژاړم ليونی يم

ای زما په بند کې پروت غريبه پلاره!

٤ .استاد عبدالروف بينوا

د "پريشانه افکار " په ټولګه کې: د يتيم نغمه ، دا هم ژوند ؟ ...

٥. د پوهاند صديق الله رشتين نظم کې، «د بزګر سندره».

په هغه کې د طبيعي چاپېريال، د بزګر ژوند، د خاورې او کار رشتينی انځور شيي.

٦ .علامه رشاد بابا

د غریب زکندن

۷.سید رسول رسا

د ښکیلاګرو تر څنګ له زورواکو څخه بربنډ شکایت  کوي  او وايي:

خدای زما او ستا خو یو دی موږې دواړه بندګان یو

ته په څه باندي مالک شوې موږه ولي فقیران یو

یو زور ظلم د فرنګ دی بل ستا لاس په وینو رنګ دی

تاسو واړه شرمښان یئ موږ بې ژبي ټول ګډان یو

۸ .ښاغلی عبدالباري جهاني

سره له دې چې دي ریالسټ لیکوال او شاعر دی خو په کیسه ایزو نظمونو کې د پند تر څنګ د ناتورالیزم  بیلګې سته.

۹. ښاغلی رحمت شاه سایل

سره له دې چې انقلابي او ریالسټیک شاعر دی خو د پښتنو بد حالت ، غربت او ټولنیزو ناخوالو تصویر یې خپلو ځینو شعرونو کې ډېر طبیعي او ناتورالیستیک راوړی دی.

۱۰ .ښاغلی دریش درانی

سره له دې چې ډېر فلسفي شاعر دی خو پښتنو تصویر تر یو ځایه په ناتورالیستیکه بڼه وړاندي کوي.

۱۱ . ښاغلی پیرمحمد کاروان:

چنار اخیستی اور یې د ناتورالیزم خورا ښه انځور

۱۲ . اروښاد مطیع الله تراب:

د ظلم ، بې عدالتیو ډیر لوڅ او بربنډ انځور د ولس په ژبه وړاندي کړی چې د ناتورالیزم خورا ښه تابلو ده.

مخکنی شاعران یا د موضوع، یا د بڼې او یا دریځ له اړخه یو څو ناتورالیستې بیلګې لري خو مطیع الله تراب هم د ژبې له اړخه، هم د بربنډ انځور او هم د موضوع او دریځ له مخې د ناتورالیزم د مکتب بشپړ او ښه استازیتوب کوي.

**مسعود:** د ناتورالیسم، د انځورګرۍ او نقاشۍ هنر، ځانګړتیاوې، منځپانګه او پیغام او همداسې د دوی د هنر تګلوری او د سبک مهمې ځانګړنې زموږ په افغاني ټولنه کې څه ډول ارزوي؟ او دا راته وویاست، چې کومو نامتو انځورګرو او نقاشانو د ناتورالیسم د انځورګرۍ او نقاشۍ په هنر کې برخه اخیستې ده، د دوی پېژندل شوي نښیرونه(آثار) راته په ګوته کړئ.

**ډاکټر رشاد:** ناتورالیزم (Naturalism) انځورګرۍ کې هغه هنري مکتب دی چې هڅه کوي طبیعت، انسان او ورځنی ژوند په ډېر واقعي او طبیعي ډول وښیي یعنې هنرمند شیان هماغسې انځوروي لکه څنګه چې په واقعیت کې ښکاري، بې له مبالغې او خیال‌پردازۍ.

لکه څنګه چې مخکې وویل سوه چې ناتورالیزم د ۱۹مې پېړۍ په منځنیو کلونو کې په ځانګړي ډول له ۱۸۵۰م وروسته په فرانسه کې مشهور سو. دا مکتب د رومانتیزم او اکاډمیک هنر پر ضد راپورته سو، ځکه هنرمندانو غوښتل ریښتینی ژوند او عادي خلک انځور کړي.

د ناتورالیزم بنسټ ایښودونکي او مخکښ هنرمندان

. Gustave Courbet

ده ته د ناتوراليزم او رياليزم له مهمو بنسټګرو څخه ويل کېږي. هغه بزګران، کارګران او عادي خلک په واقعي بڼه انځورول.

مشهور آثار يې:

The Stone Breakers

A Burial at Ornans

***

. Jean-François Millet

ده د کليوالو خلکو او بزګرانو ژوند په ډېر طبيعي ډول انځور کړی.

مشهور آثار يې:

The Gleaners

The Angelus

***

. Édouard Manet

که څه هم وروسته د امپرېشنيزم له هنرمندانو سره اړيکې ټينګوي خو د طبيعي او واقعي ژوند په انځورولو کې يې مهم رول درلود.

مشهور آثار يې:

Olympia

Luncheon on the Grass

***

د ناتورالیزم ځانګړنې:

د طبیعت او انسان واقعي انځورول

د عادي خلکو ژوند ښودل

د رڼا، سیوري او رنګونو طبیعي کارول

له خیال‌پردازۍ او مبالغې څخه ډډه

ټولنیز حقیقت ته پام کول

د ناتورالیزم اغېز:

ناتورالیزم وروسته پر Impressionism او Realism هم اغېز وکړ او د معاصرې رښتینې انځورګرۍ لپاره یې لار هواره کړه.

په Afghanistan کې ناتورالیستي (طبیعت‌پاله او واقعي) انځورګري د شلمې پېړۍ په پیل او په ځانګړي ډول د امان الله خان د واکمنۍ (۱۹۱۹–۱۹۲۹م) پر مهال، په نوې بڼه وده وکړه. له اروپا او Turkey څخه د هنري زده کړو او عصري فکرونو له راتګ سره، افغان هنرمندانو هم د انسان، طبیعت او ټولنیز ژوند رښتني انځورول پیل کړل.

د ناتورالیستي انځورګرۍ پیل کوونکي

**استاد عبدالغفور برېښنا:**

استاد برښنا د افغانستان د معاصرې نانځورګرۍ له بنسټګرو څخه ګڼل کېږي. هغه په Germany کې هنري زده کړې کړې وې او وروسته يې افغانستان ته د اروپايي سبکونو، په ځانګړي ډول رياليزم او ناتوراليزم بڼه راوړه.

د هغه په انځورونو کې:

طبيعي منظرې

د افغانانو ورځنی ژوند

کليوالي صحنې

تاريخي او کلتوري موضوعات

ډېر ښکاره کېږي.

نور مشهور افغان ناتوراليستي او رياليستي انځورګران

پروفيسر غلام محمد ميمنه ګي

استاد ميمه‌ګي د افغانستان له لومړنيو واقعي انځورګرانو څخه و. هغه د دربار، طبيعت او خلکو ډېر طبيعي انځورونه جوړ کړل.

مشهور آثار:

د افغان پاچاهانو انځورونه

د کابل زړې منظرې

طبيعي باغونه او کليوالي

استاد خيال محمد خادم

استاد خادم د افغان فولکلور، بزگرانو او دودیز ژوند واقعي انځورونه جوړول.

مشهور آثار:

د بزگرانو ژوند

اتڼ او محلي دودونه

د افغانستان کلیوالي منظرې

محمد زمان

هغه د معاصر افغان ریالیزم او طبیعت‌پالې د انځو گرۍ له مهمو څېرو څخه گڼل کېږي او د انساني احساساتو او طبیعي فضاوو په انځورولو کې مشهور و.

د افغان ناتورالیزم ځانگړنې:

د افغانستان طبیعي منظرې انځورول

دودیز لباسونه او کلتور ښودل

د کلیوالي ژوند انعکاس

د خلکو واقعي څېرې او احساساتو ښودل

د رنگونو نرم او طبیعي استعمال

مشهور موضوعات

افغان ناتورالیستي هنرمندانو زیاتره دا شیان انځور کړي:

د کابل زاړه بازارونه

غرونه او طبیعي منظرې

بزگران او کوچیان

دودیز مراسم او اتڼ

تاریخي شخصیتونه

د دې مکتب اهمیت په دې کې دی چې په افغانستان کې د معاصر هنر د ودې بنسټ کښېښود او افغان هنر یې له دودیز مینیاتور څخه عصري واقعي انځورګرۍ ته ورننژدې کړ.

**مسعود:** په پښتو ادبیاتو کې د ناتورالیسم لارویانو تر ټولو نامتو لیکوال څوک دي؟ ایا دوی د ناتورالیسم له ښوونځی او تګلوري څخه اغیزمن دي که نه؟ مهرباني وکړئ د دې لیکوالو د نوماندو نښیرونو(اثارو) نومونه واخلئ.

**ډاکټر رشاد:** په پښتو ادب کې هیڅکله یو بشپړ او منظم ناتورالستي مکتب نه و رامنځته سوی، خو د شلمې پېړۍ ډېر لیکوالان ترې اغېزمن سوي دي.

د دوی په آثارو کې د ټولنې حقیقي ستونزې، فقر، بېوزلي، اقتصادي فشار او د چاپېریال اغېزې په صریح او هنري توګه لیدل کېږي، خو د فرانسوي ناتورالیسم په څېر سخت او تجربي بڼه نه لري.

**مسعود:** په افغاني ټولنه کې د ننداري"تیاتر"، ډرامې، سینما او  فلم جوړونې او همداسې د عکاسۍ او معمارۍ په هنرونو کې د ناتورالیسم تګلارې او هنري اغېز څه ډول ارزوئ؟ او دا راته وویاست په دې هنري برخو کې د دوی نامتو استازي څوک ول. ښه به وي که د دوی پېژندل شوي نښیرونه(آثار) راته په کوته کړئ.

**ډاکټر رشاد:** په سینما او سینماتوګرافۍ کې ناتورالیزم (Naturalism) هغه هنري سبک دی چې هڅه کوي ژوند، خلک او پېښې په ډېر واقعي، عادي او پرته له مصنوعي ډوله وښيي. هدف دا وي چې نندارچي احساس کړي چې دا صحنې رښتینې دي، نه جوړې سوې.

د ناتورالیزم مهمې ځانګړتیاوې:

۱ .طبیعي اداکاري(تمثیل)

لوبغاړي عادي او واقعي چلند کوي، ډېر تیاتري یا مبالغه‌ناک احساسات نه کاروي.

۲ .طبیعي رڼا او چاپېریال

ډېر فلمونه په واقعي کورونو، کوڅو او طبیعي ځایونو کې فلمبرداري کېږي، نه یوازې په سټوډیوګانو کې.

۳ .د ژوند عادي موضوعات

بېوزلي

کورنۍ ستونزې

ټولنیز فشار

کارګري ژوند

جګړه او مهاجرت

۴ .لږ موسیقي او مصنوعي افکتونه

فلم هڅه کوي واقعي ږغونه او چاپېریال وساتي.

۵ .اوږدې او ارامې صحنې

کمره کله ناکله یوازې ژوند تعقیبوي، بې له چټک کټ او زیاتې ډرامې.

دا سبک د ۱۹مې پېړۍ د فرانسوي لیکوالانو لکه:

Émile Zola

له ادبي ناتورالیزم څخه اغېزمن او سینما ته داخل سو، په ځانګړي ډول د ایټالیا نیوریالیزم (Italian Neorealism) ،مستند ډوله فلمونو او هنري سینما ته.

مشهور ناتورالیستي فلمي مکتبونه:

ایټالوي نیوریالیزم

د دویمې نړیوالې جګړې وروسته رامنځته سو.

ځانګړنې:

غیرمسلکي لوبغاړي

واقعي کوڅې او ښارونه

د بېوزلو خلکو ژوند

مشهور فلمونه:

Bicycle Thieves

د یو غریب پلار او زوی کیسه.

Rome, Open City

د جګړې واقعي ژوند ښيي.

نور مشهور ناتورالیستي فلمونه:

Children of Heaven

د ماشومانو، فقر او کورنۍ ساده خو واقعي ژوند.

The ٤٠٠ Blows

د یو هلک واقعي او ستونزمن ژوند.

Kes

د کارګرې طبقې د ماشوم ژوند.

Taste of Cherry

ارامه، فلسفي او طبیعي سینما.

مشهور کارګردانان(Directors)

Vittorio De Sica

Roberto Rossellini

Abbas Kiarostami

Satyajit Ray

Ken Loach

دي.

خو په افغان فلمونو کې هم د جګړې، کډوالۍ او کلیوالي ژوند واقعي انځورونه لیدل کیږي.

ځینې بېلګې:

۱" .د کونډې زوی "سریال سره له دې چې ریالستیک دی خو

 د کليوال او ښاري ژوند توپيرونه او د شادګل ساده کليوال تمثيل چې په ډير ښه او ربښتيني ډول تر سره سوی د ناتوراليزم ښه لري.

۲ .اسامه» فلم

دا فلم د طالبانود لومړي ځل د وخت د یوې نجلۍ ربښتنی او دردناک ژوند انځوروي.

ناتوراليستي ځانګړنې يې:

واقعي چاپېريال

طبيعي اداکاري(تمثيل)

د فقر حقيقي تصوير

۳ .فلم «خاک و خاکستر»

دا فلم د جګړې درد، د کورنۍ غم او د افغان انسان محروميت په واقعي ډول بيانوي.

ناتوراليستي تياتر (Naturalistic Theatre) د ۱۹مې پېړۍ په وروستيو کې، شاوخوا د ۱۸۷۰م او ۱۸۸۰م کلونو ترمنځ په France کې رامنځته سو. دا تياتر د رياليزم له مکتب څخه وده وکړه، خو هڅه يې دا وه چې ژوند لا ډېر دقيق، علمي او طبيعي وښيي.

د ناتوراليستي تياتر د رامنځته کېدو لاملونه

دغه تياتر د څو فکري او علمي بدلونونو له امله پيدا سو:

د ساينس پرمختګ

د Charles Darwin د تکامل نظریه

صنعتي انقلاب

د ښارونو پراختیا او ټولنیزې ستونزې

لیکوالانو باور درلود چې تیاتر باید ژوند لکه څنګه چې دی هماغسې وښیي.

د ناتورالیستي تیاتر ځانګړنې دادي:

واقعي صحنې او کورنی چاپېریال

عادي او بېوزله خلک د کیسې اتلان

طبیعي خبرې او ورځنی ژبه

د ټولنیزو ستونزو بیان

د احساساتو او چلند واقعي انځور

مشهورې څېرې

Émile Zola

د ناتورالیزم اصلي بنسټګر ګڼل کېږي.

ده د "تجربوي تیاتر" نظریه وړاندې کړه.

Henrik Ibsen

د معاصر واقعي تیاتر مهم شخصیت.

د کورنۍ او ټولنې ستونزې یې بیانولې.

August Strindberg

د انساني ذهن او ټولنيزو فشارونو په ښودلو مشهور و.

Anton Chekhov

د ورځني ژوند او انساني احساساتو واقعي انځور وړاندې کاوه.

مشهورې ننداري (ډرامې)

Thérèse Raquin

د جرم، احساساتو او چاپېريال اغېز ښيي.

A Doll's House

د ښځو حقونه او کورنی ژوند بیانوي.

Ghosts

د کورنی پټ رازونه او ټولنیز فشارونه.

Miss Julie

د طبقاتي توپير او رواني شخړو ډرامه.

The Seagull

د انسان ارمانونه او ناکامی انځوروي.

د ناتوراليستي تياتر اغېز وروسته پرمعاصر تياتر،سينما ، تلويزيوني ډرامو او ټولنيزو فلمونو پاته سو او د نن ورځې ډېر واقعي فلمونه او سريالونه د همدې سبک ادامه بلل کېږي.

اوس که له نړیوال ناتورالیستي تیاتر څخه راسو ناتوراليزم په افغاني تیاتر کي دا راته څرګنده کیږي چې په افغان تیاتر کي ډېر هنرمندان د خلکو ریښتینی ژوند تمثیلوي چې له لومړي سره د شاه امان الله د پغمان له ننداريٰ او پوهنې ننداري نیولې بیا تر کابل ننداري ، مرستون ننداري آن تر راډیو او ټلویزیون پوري يې رسولي دي خو په طنز ، لغاز او ټوکو کې، چې د کابل او ولایتونو صحنې او تمثیلې ټوټې هم هغه کې څرګند رول لري سره دې چې بخوا کندهار کې ناټکانو به دا ډول تمثیل کاوه .

بېلګي:

د دفتر د پیاده ګانو ، تعویذ ګرو ، کوډګرو ، میرزایانو ، میرزا قلمانو ، بیروکراسۍ او داسي نورو تمثیل دي .

د کډوالۍ ستونزي

د ښځو محرومیت

د کلیوالو خلکو ژوند

د بیوزلۍ او جګړې دردونه

ځکه نو ویلای سو چې دا ډول تیاتر تیاتر د ټولني ستونزي بې له مصنوعي رنګ څخه ننداري ته وړاندي کوي.

په فوټوګرافي کې ناتوراليزم هغه سبک ته وایی چي پکې عکاس هڅه کوي شیان، خلک او طبیعت هماغسې وښیی لکه په رشتیا چي دي بې له ډیري مصنوعي رڼا، درونډ ایډیټنګ، یا جوړې سوې صحنې.

د ناتوراليزم مهمې ځانګړنې:

طبیعي رڼا کارول (لکه د لمر رڼا).

د صحنې واقعي رنګونه.

لږ ایډیټ یا فلټر.

د خلکو طبیعي حالت او احساسات.

د چاپېریال رښتینی ښودل.

د ناتورالیزم مثالونه:

د کلي د ژوند عکاسي.

د طبیعت او غرونو انځورونه.

مستنده فوټوګرافي.

د خلکو له مصنوعي جوړښته پرته عادي شیبې.

د نورو سبکونو سره توپیر

د فېشن یا سټوډیو فوټوګرافي برعکس، ناتورالیزم کې مصنوعي جوړښت لږ وي. هدف یې د ښکلا تر څنګ حقیقت ښودل وي.

د مثال په ډول، که یو عکاس د بزګر انځور په پټي کې د لمر په طبیعي رڼا واخلي او هماغه چاپېریال وساتي، دا ناتورالیزم ته نژدې انځور بلل کېږي.

خو په افغانستان کې ناتورالیستي فوټوګرافي د خلکو د واقعي ژوند، کلتور، کلیوالي چاپېریال، جګړو او ورځنیو حالاتو د ثبت له لارې پېژندل کېږي. دا سبک ډېر د مستندي فوټوګرافي سره نژدې دی، ځکه عکاسان هڅه کوي چې حقیقت بې له مصنوعي جوړښته وښیي.

فوټوګرافي افغانستان ته د ۱۹مې پېړۍ په وروستیو کې د امیر عبدالرحمان خان د دورې پر مهال راغله. په لومړیو کې دا یوازې د دربار او رسمي انځورونو لپاره کارېده، خو وروسته ورو ورو د ښارونو، دخلکو، د ولسي جامو، بازارونو او طبیعي منظرو انځورونه هم واخیستل سول.

د ۱۹٦۰ او ۱۹۷۰ لسیزو پر مهال ژورنالیستیکي او مستنده عکاسي نوره هم پراخه سوه، او د جګړو په کلونو کې نړیوالو او افغان عکاسانو د افغانستان د واقعي ژوند انځورونه نړۍ ته ورسول.

پخواني مشهور عکاسان

ولیم سمپسن( William Simpson)د دوهمې افغان-انګریز جګړې پر مهال د افغانستان د خلکو او سیمو انځورونه ثبت کړل.

رولان او سابرینا میشو (Roland  and Sabrina Michaud) د ۱۹٦۰مو او ۱۹۷۰مو کلونو افغانستان یې په طبیعي او فرهنګي بڼه نړۍ ته معرفي کړ.

سټیو مککرى(Steve McCurry )د افغانستان د جګړو او مهاجرو مشهور طبیعي او مستند انځورونه  اخیستي دي، په ځانګړي ډول د «افغاني شین سترګي نجلۍ» انځور.

معاصر یا اوسني مشهور افغان عکاسان:

نجیب الله مسافر: هغه د  جګړې، مهاجرت او د افغانانو د سخت ژوند ریښتیني عکسونه اخیستي دي.

مسعود حسېني: د جګړو او انساني حالاتو واقعي انځورونو لپاره مشهور دی.

وکیل کوثر: د فرانس پریس لپاره یې د افغانستان د طبیعي او ورځني ژوند انځورونه اخیستي.

فرزانه وحیدي: د افغان ښځو، کلیوالو او ټولنیزو موضوعاتو په مستند او ناتورالیستي سبک کې کار کوي.

شاه مروي: د افغانستان د جګړو او عام ژوند واقعي صحنې یې ثبت کړې.

فاروق زرنګ او داسي  ډیر نور په تیره بیا د باختر اژانس ، ملي راډیو تلویزیون او نورو رسنیو عکاسان .

د افغانستان د ناتورالیستي فوټوګرافي ځانګړنې:

د جګړې او مهاجرت رښتیني انځورونه

قومي او کلتوري ژوند.

د کلو او بازارونو طبیعي حالت.

د خلکو احساسات او ورځنی ژوند.

د طبیعت او غرونو واقعي منظره.

افغانستان کې ناتورالیستي فوټوګرافي تر ډېره د واقعیت، درد، مقاومت او کلتور د بیان وسیله پاته سوې ده.

مشهور تصویر:

د کابل د چاودنې وروسته د یوې ژوبلي نجلۍ عکس چي نړیوال شهرت یې پیدا کړ.

**مسعود:** تاسو د  افغاني موسيقۍ په هنر کې د ناتوراليسم تګلارې او هنري اغېز څه ډول ارزوئ؟ ښه به وي که تاسو په دې برخه کې د نامتو هنرمندانو او د دوی د ښيرونو(اثارو) په اړه مالومات راکړئ.

**ډاکټر رشاد:** د "ناتوراليستي موسيقۍ" اصطلاح عموماً هغې موسيقۍ ته ويل کېږي چې د طبيعت ږغونه، فضا او احساسات په رښتينې يا طبيعي بڼه څرګندوي. دا سبک هڅه کوي چې اورېدونکی د طبيعت له نړۍ سره ونښلوي.

ځينې مهم ځانګړنې يې:

د باران، باد، مرغانو، سيند او ځنګله ږغونه پکښې کارېږي ارامه او نرم ريتم لري.

ډېر وخت د آرام، مراقبې او ذهني سکون لپاره اورېدل کېږي.

ډيريو  سازونو کې له شپيلۍ ، پيانو، ګيتار او نرمو الکترونيکي  ږغونو څخه استفاده کېږي.

کله ناکله د فلمونو او مستندو پروګرامونو لپاره هم جوړېږي.

د ناتوراليستي موسيقۍ بېلګې:

د طبيعت ږغونو سره مراقبوي موسيقي

Ambient music

New Age music

د ځنګل يا سمندر ږغونو سره ارام کمپوزونه

مشهور نړيوال هنرمندان چې دې ته نژدې سبکونه لري:

Ludovico Einaudi

په افغانستان کې "ناتوراليستي" يا طبيعت‌محوره موسيقي د لوېديځ  په شان جلا رسمي سبک نه ګڼل کېږي، خو د افغانستان په ولسي، کليوالي او صوفيانه موسيقۍ کې د طبيعت نرم احساس ډېر ژور حضور لري. د غرونو، دښتو، باران کوچ، شپې، سپوږمۍ،باد او کليوالي ژوند انعکاس د افغان موسيقۍ يوه مهمه برخه ده.

د افغانستان د ناتوراليستي موسيقۍ ځانګړنې:

د طبيعت او کليوالي ژوند انځورول

نرمې او اوږدې نغمې

د شپېلۍ ، رباب، دمبورې، دوتار او طبلې طبيعي غږونه

 پښتني ولسي نغمو کې د غرونو او سفر حس ، د پکتياغرنۍ سندرې ، د هرات او بدخشان ولسي سندرې

صوفيانه او مراقبوي فضا

افغان موسيقي ډېره له ولسي، صوفيانه او کلاسيکو ريښو سره تړلې ده، او همدا عناصر يې ناتوراليستي رنګ پياوړی کوي .

مشهور هنرمندان:

ډاکټر صادق فطرت(ناشناس)

د پښتو او دري غزلواو نرم  سبک له امله مشهور دی. بيلګې:

چې مي يار په سفر تللی زه په کور يم ، دره به دره هوای پغمان به دره او داسي نوري .

ساربان

د افغانستان له تر ټولو شاعرانه او نرمو ږغونو څخه ګڼل کېږي. د هغه موسيقي کې د طبيعت، باران او احساساتو ژوره فضا ليدل کېږي.

بيلګې:

ای ساربان آهسته ران ، آهسته برو او داسي نورې سندرې.

ايوب استاد

د افغانستان له ولسي سندرغاړو او له سوزه ډک ږغه برخمن و.

بيلګې:

ای عشقه نامراده تا څه په غمو سر کړم ، ليونۍ مينې کړم آشنا له بيابانه سره ، راشه جانانه شه مهربانه، وخت مازديګر دی جينکۍ ګودر ته ځينه.

استاد ګل زمان

چې کمپوزونه يې ډيرو هنرمندانو ويلي دي .

بيلګه:

"په ګل غونډي کې" د طبيعت انځورګري ده .

استاد محمد عمر

د رباب ستر استاد و. د هغه نغمې د افغانستان د طبيعي او ولسي روح استازيتوب کوي .

نسیم خوشنواز

د هرات دوديزې او ارامې ربابي نغمې ږغوي چې Ambient او طبیعت‌محوره احساس لري .

عبدالسلام مفتون

د بدخشان د موسیقي سالار  چې هم سندرغاړي هم شاعر او کمپوزیتور دی په سندرو کې د طبیعت ښکلا او مینه انځوروي.

بیلګې:

یار بدخشانی،  دلبر اشکاشمی

احمدظاهر

که څه هم پاپ هنرمند و، خو ځینې سندرې یې د طبیعت، باران او حسي فضا له امله ناتورالیستي رنګ لري لکه باران شوم که ببارم قطره قطره .

د موسیقۍ سیمې او بېلګې

د پکتیکا ولسي موسیقي

د پکتیا غرني ږغونه او سندرې چې د جګو غرونو ، ځنګلونو ، کوچ او طبیعت ډېره په زړه پوري ترجماني کوي چې د شپلۍ او کله له ډوله سره ملې وي.

د هرات موسیقي

د هرات دوديزې نغمې ډېرې نرمې، شاعرانه او طبیعت‌محورې دي. د دوتار او رباب استعمال یې ځانګړی سکون لري .

د هزاره‌ګانو دمبوره

د غرونو او کليوالي ژوند احساس پکې ډېر غښتلی وي .

د بدخشان غيچک ، رباب ، تنبور

د غرونو ښکلا او د طبيعت ښايست انځوروي.

پښتني ولسي سندرې د ډول ، رباب ، شپيلۍ ، منګي او کاسې سره

ټپه، لنډۍ او د کوچيانو سندرې اکثر د غرونو، باران، سيندونو او د سفر احساس بيانوي.

د کندهار ولسی موسيقي، صوفيانه عصاوي او نشرې، د ننګرهار داستاني موسيقي، ټپې، چاربيتې او داسي نور.

***

**پایله:**

ناتوراليزم په پښتو ادب او د افغانستان په هنرونو کي د واقعيت او د انسان د ژوند د اصلي ستونزو د بيان مکتب دی. که په شعر کي وي، که په ناول، سينما، انځورګری، تياتر، فوتوګرافي او يا موسيقۍ کي ، هدف يې دا دی چي ژوند لکه څنګه چي دی، همغسي وښيي.

افغان هنرمندانو او ليکوالانو د جګړو، غربت، مهاجرت، بې‌عدالتۍ او د ولس د دردونو واقعي انځورونه وړاندي کړي دي، چي دا د ناتوراليزم تر ټولو مهمه ځانګړنه ده.

***

ګران او منلی ډاکټر طارق رشاد صاحب!

زه ستاسو منندوی یم، چې زما پوښتنو ته مو بشپړ او کره علمي او ادبي ځوابونه را کړل. ستاسو د علمي، ادبي او مسلکي ژوند ډېوې تل روښانه او ځلانده غواړم.

ګران انجنیر مسعود صاحب!

ستاسو څخه مننه، چې د خپلې ژبې او فرهنګ د خوندي ساتنې، پالنې او ودې په اړه مو کوټلي ګامونه اخیستي، چې له هغو څخه یوه بیلګه همدا ده چې غواړی په پښتو ژبه کې هم له بېلابېلو مکتبونو او ښوونځیو له پڅندلو لپاره له بېلابېلو قلموالو او فرهنګیانو سره مو اړیکې ټینګې کړي او د هغوی پاملرنه مو دې لوري ته را جلب کړې او د پر له پسې ټینګار په وجه مو، دوی دې ته هڅولي چې خپل نظر او خپل قلم له تاسو ونه سپموي. ستاسو يې کور ودان، تل بريالي او نيکمرغه اوسئ، په ژوند و قلم مو برکت.

**په پښتني او ادبي مینه: انجنیر عبدالقادر مسعود**